
Ketabton.com
صدیق الله شبگرد

(c) ketabton.com: The Digital Library





ما په ډېر زيار او زخمت سره تاسو ته علمانو ويناوى راټولي کړي دى ، که ژوند باقي و. نور کتابونه به هم وليکم دا مې اولين کتاب و.

که غلطي پکښي وه، نو اشناء الله راتلونکي کتاب کې به يې اصلاح کم

او زما دا کتاب يواځي (FDP)

( )

(غـوره وينـاوې او مـثالونه د پـوهانـو او پـند اخـستونـکو له پاره دي ناپـوهانـو ته يـې هيـڅ ګټه نـشـته)

( )

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلګ چې هرڅه کوي، کوې دي: خو: ته يواځي د (قهرمان) کيدو لپاره زيږيدلي يئ

ناکامي دا نده چې ته خپل هدف ته ونه رسيږې بلکې ناکامي هغه ده هيڅ هدف ونلري

د ستونزي څخه دتيښتي ښه لاره دهغي حل کول دي

هغه څوک چې دتازه ميوي هيله لري پاي درختي سرته پورته سي

زړيدو څخه شکايت مه کوه ځکه ډير خلګ دهغه چانس نه پيداکوي

که غواړي خپل نړۍ بدله کړي نو خپل فکرونه دي بدل کړه

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنګ نظر خاوندان معمولا پراخه خوله لري

تر ټولو ستر خطر چې زموږ ژوند کیفیت له منځه وړي هغه تخریبونکي افکار او تخریبونکي باورونه دي

په دي فکر مه کوئ؛ چي په تیرمهال کې څوک وم بلکي تصمیم ونیسه چې په راتلونکي مهال کې یو څوک شي

ژوند همغه څه تاته دربښې چې ته یې ترې غواړې

Shabgerd

هغه څوک چي غواړي  پر خلګو حکومت وکړي لومړي باید پر خپل ځان باندي حاکم سي

جګړه غله په نس مړوي خو سوله هغوي په دار ځړوي

ځواني هم دشتمني دپاره ښه وخت دي  هم دغریبي دپاره

که غواړي چي اټومي جګړه وګټي کوښښ وکړه چي هغه پیل نشي

هغه څوک چي دوستان لري  هڅکله بي ګټي نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه چي خاموشه وي دوه برابره ښه ایسي

ښځه په نارینه او شیطان بیا په ښځه لوبي کوي

باید د ټولو لپاره د علم دروازې پرنیستل شي هر چیرته چي کرنه ده او هرچیري چي انسان دي نو هلته باید کتاب هم وي

الوتونکي په څیر شه چي د ونې په یوه نرۍ او کمزورې ښاخ باندي کیني سندرې وایي او دا احساسوي چي ښاخ ښوري مګر ډاډه دي چي وزرونه لرئ

لا ماشوم وم چي د لویوالي هوډ راسره و

زما ترټولو ښه ملګري هغه دي چي ورین تندي لري

د ماشومانو راتلونکي د مور و پلار په روزنه کي دي که په ختیخ کي زر کسه ووژل شي دا یوه پیښه ده

کار نه کول له ژوند نه کولو سره برابر دي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه لاسونه بختور دي چي د توري پر ځاي پکي قلم نيول کيږي

هر انسان له خپلو پوښتنو پيژندل کيږي نه له ځوابونو

کتاب پر تولنه نړۍ او يا لږ تر لږه پر لوستو خلکو حکومت کومت له دي حکومت نه وتي خلک کوم ارزښت نه لري

انسان که د هوډ او تصميم نيوني پر وخت ازاد و نو ازاد دي

په کومه تولنه کي چي کار اهل کار ته ونه سپارل شي په حقيقت کي تول بيکاره دي

کار مو له دريو بلاګانو ژغوري : غلا. خفګان. او. اړتيا

څومره چي کتاب مطالعه کړي هغومره به رښتيني خوند ومومي

څومره چي متاهل کسان ډير شي هغومره به جنايت کميږي

مينه پياوړي اور دي چي په يوه شيبه کې زړه او ماغزه تر بريد لاندې راولي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې دلپاره چې ښه ولیکو نو یوه  خپلواک  هیواد ته اړتیا لرو

څوک چي بخښنه کوي کامیابي هم لاسته راوړلي سي

ښه ګاونډي له هغه وروره غوره دي چې له تاسو لرې اوسیږي

که غواړئ چې نورو ته د مینې ورکولو وړ وګرځي  نو لومړی د ځان سره مینه ولرئ

د واړه ماشوم هم عزت کوه تر څو هغه دې عزت وکړي

په ګډه کار بغیر له نظمه ګډوډي منځته راوړي

دوه میړیان یو ملخ کشولي شي

هیڅ خبره نه ده  که تاسو په غلطه لاره هر څومره تللي وئ بیرته را تاو شي

د ګلانو لپاره باید اغزو ته هم اوبه ورکړو

په ښو خبرو خواره نه پیداکیږي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځینې وختونه تر ټولو ښه نڅاګر هم په ستېج لویږي**

**له موره هیڅوک هم هوښیاران پیدا نه دي**

**که دپلار لاره دې تعقیب کړه نو د پلار په شان تلل به هم زده کړې**

**شتمني که استعمال یې کړي بالاخره پاي ته رسیږي**

**زده کړه که استعمال یې کړې لا پسې زیاتیږي.**

**تر ټولو غوره دوست مي هینداره ده کله چې زه ژاړم هغه نه خاندي**

**ژوند یوه ستونزه نده چې حل یې کړي بلکې یوه ډالۍ ده چې باید تري خوند واخلي**

**که چیري کومه ورځ درسره خیانت وشو نوپوه شه چي ارزښت دي لوړ دي**

**ترټولو ځلانده تاج چې خلک یې په خپل سر باندي ږدي په اور غالي کې جوړشوي دي**

**که چیري غواړي چې دوښمنان مو وګوابنۍ نو له خپلو دوستانو سره ښیګڼه وکړي**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر هرڅه ښه کيږي که ښه نه شول نو وخت يې نه دي رارسيدلي

خپل کار پيل کړئ دترسره کيدو وړتيا يئ په خپله ورپسئ راځي

ستاسي عمر هغه مهال پيليږي چې خپل برخليک اختيار په خپلو لاسونو کې واخلئ

تر ټولو ستونزمن ګام همغه لومړئ ګام دي

جلا وطني د سړو قدر کموي

ټغر هلته خرڅ کړه چې بيرته پري کښيني نه

چاته چه شې نه ورکوي ورښکاره کوه يئ مه

حکيم سړي هغه دي چې قدرت يئ ورسيږي او ظلم ونه کړي

حيا نيم ايجاب دي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حیوان چې بیکاره شي هم خوړل کیږي هم خرڅیږي**

**ځان ستړي ښه دي نه زړه ستړي**

**ځواني یوه نشه وي داسي نه چې همیشه وي**

**زوي ځان خو دي وا شرمه وه خو قوم ونه شرموي**

**ډیر سفر وکړه چې خاموالي دي پوخ شي**

**زغم ښه شي دي خداي (ج) پري انسان ته اجر ورکوي**

**زړور یو وخت مري او بې زړه تل مري**

**یا خپله ښه سه یا دښو خلګو پر پله سه**

**یتم په ژړا پوخ دي**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان ښایست دري شیان دي : علم : محبت : ازادي :

عوام شتمن خلک خوښوي او خاص خلک عالمان او پوه خلک خوښوي

د خلکو لپاره یواځیني او ښه لارښود پوهه مثبت فکر او ښه تدبیر دي

د بوډایۍ د ورځو لپاره په ځواني کې شمع بله کړه

د ژوند په قدر ځان پوه کړئ بي ځایه وخت مه ضایع کوئ

کله چې خوشحاله وي . د سندري له سازه خوند اخلې ؛ خو کله چې خفه وي د سندري له شعر خوند اخلي

ژوند ډیر عجیب او غریب دي کله چې ماشومان وي غوښتل مو چې لویان شئ خو کله چې لویان شوي غواړي چې ماشومان شئ

د نورو پیژندنه ؛ ستا ځیرکتیا ده دخپل ځان پیژندنه ستا هوښیارتیا ده

که ښځي نه وي دا د نړۍ نابغه ګان به چا روزلي واي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني خلک د ډبرو په لټون کې الماس بايلي

که غواړي د خپل ژوند کيسه وليکئ نو چاته اجازه مه ورکوي چي بل څوک مو قلم په لاس کې ونيسئ

تاسو په ژوند کي بايد تجربي وکړي تر څو په ژوند پوشئ

ځينې شيان تاسو په سختو حالاتو کې هم زده کولي شئ

زما په قاموس کې ناشوني کلمه نشته

خوشحاله کورني درلودل هرڅه دي  هيڅ انديښنه مه کوي که شتمن نه ياست

باور  د کاغذ په څير دي که  يو ځلي قات شي بيرته لومړنی حالت ته نه راگرځي

اسمان په ډبرو مه وله خپل سر به مات کړي

اصيل په جنډه کالو کي هم معلوميږي

اميد الله (ج)  ته ښه دي نه له بنده ته

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان بي وزره مرغه دي

انسان ته انسانيت ضروري دي

انسان له سهوي خالي ندي

انسان په اميد ژوندي دي

انسان په خبرو او څاروي په رسۍ وتړه

انسان په يوه ورځ پيدا او يوه ورځ مړی

او زه وايم بي وطني ستره بلا ده

اوبه او اور سره نه يو ځاي کيږي

غوصه کوونکي خلک هميشه هوښيار نه وي

که تاسو خورا ښکلې هم وئ بيا هم يو هنر زده کړئ ؛ ځکه چې تاسو ته څوک په ښکلا خواړه نه درکوي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوي غوښتل چې موږ د خاورو لاندې کړي خو دوي نه پوهیدل چې موږ تخمونو (دانې) یو
کله چې تاسو دننه دوښمنان ونه لرئ نو بهر دوښمنان درته هیڅ زیان نه شي رسولاي
که غواړئ حافظه مو قوي شي نو خلګو ته په قرض پیسې ورکړه

ژوند یو پیاز دي چې  دسپینولو پر مهال مو یو ځل خامخا ژوړي

خاموشي سره زر ده  کله چې یوه ښه ځواب د ورکولو لپاره فکر نشي ورکولاي

موږ هیڅکله هم زړور کیدلي نشو که ویره ولرو

ملګرتیا د نړۍ ترټولو سخت شي دي چې په رښتني معنا یئ ځان پوه کړو

که د غره سرته رسیدل غواړئ نو مجبور یاست چې په هره ډبره پورته شي

نیک کار کې پر دوستانو ژغ کوه چې نیکي پله یې درنه سي

ژوند درته همیشه د دویم فرصت وړاندیز کوي چې صبا بلل کیږي

یوه ښه میرمنه تل د خپل میره له تیروتنو ورتیریږی او بخښنه ورته کوي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هر کار چې کوي له  نرمۍ کار پکې اخلئ**

**هڅه مه کوی چې تل ښه او عالي شخص واوسي يوازې له پرون ورځې ښه واوسه**

**زده کړه يوازې په حقيقتونو پوهيدل ندي بلکې د ذهن هغه روزنه ده چې  دهغې پواسطه فکر وکړئ**

**هر څوک د سپوږمۍ په شان دی او يوه تياره خوا لري چې هيڅکله يئ هم نورو ته نه ښکاره کوئ**

**پرون بيداره وم ما غوښتل چې  نړۍ ته بدلون ورکړم ؛ خو نن هوښيار يم ځکه چې لومړۍ ځان ته بدلون ورکوم**

**په کال کې يو ځل داسې ځای ته لاړشئ چې هيڅکله مو ليدلی نه وی**

**سفر کول مو په ژوند کې مينه او قدرت بيرته راوړي**

**دمينې په تمځای کې به تاسو وګورې چې له بودګانو هم ځوانان جوړيږي**

**ښې ونې ښه حاصل ورکوي**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که مو ذهن قوی وی مشکلې چارې هم درته اسانه ښکاري ؛ که مو ذهن کمزوری وی اسانه چارې هم درته مشکله ښکاري**

**نا پوهان د اوبو په منځ کې هم تیږي وی**

**په هر حالت کې رښتیا ووایه او ورپسې منډه کوه**

**که ماهیان نه شې نیولای نو سیند مه ملامتوه**

**په خیرات سره هیڅکله غریب کیدلای نه شي ؛ په غلا سره هیڅکله شتمن کیدلای نه شي ؛ په شتمنی سره هیڅکله هوښیار کیدلای نه شي**

**موږ لومړی ناپوهان وو خو تجربو رانه هوښیاران جوړ کړل**

**دعوي او لانجي خلاصیږی خو بدې خبرې هیڅکله هم نه هیریږئ**

**لکه څنګه چې صابون بدن پاکوی همدا ډول اوښکې روح پاکوئ**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غواړی هوښیار شئ نو ډیری خبرې مه کوئ

کومو کسانو چې د ترخو شیانو خوند نه وي څکلئ د خواږو شیانو ارزښت نه پیژني

که ښه ملګری غواړې خپله هم ښه واوسه

خبر واوسه یو دوښمن تل درسره د کمپلي لاندې ویده کیږي

حقیقتـونه او سره ګلونه دواړه اغزی لري

زیاتره وختونه د زیاتره خلګو پوزی د هغوي د خولو له امله ماتیږي

پښني مو هغه ځای ته رسوی کوم ځای مو چې زړه غواړئ

څومره تریخ دی چې د کینې له مخې یې ولیکې او په خندا یې ولولي

افسوس هر څومره هڅه مې چې وکړه چې خلګ پوه شي خو یوازې وخندېدل

د دوه بدمرغیو ترمنځ واټن ته نیکمرغي وایي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مبارزې پرته پرمختګ ناشونی دی

په ژوند کې څلور شیان مهم دی
✓ مینه
✓ صداقت
✓ رښتیا
✓ عزت ؛ که دغه څلور شیان ونلرئ نو په ژوند کې تاسو هیڅ هم نلرئ

ژوند د یو کتاب په څیر دی ځینې فصلونه یې غمجن ځینې یې خوشحاله او ځینې ډېر په زړه پورې دی ؛
که د کتاب صفحې ونه اړوئ تاسو به هیڅکله هم پوه نشئ
چې راتلونکې فصل کې څه دي

حقیقي مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان د هغه د ژبې او لاس له شر څخه په امن وي
آیا تاسو ته هغه کار دروښیم چې په کولو سره یې ستاسې په منځ کې مینه او وروروللي ټینګیږی هغه یو بل ته د سلام ورکول دي

کامل مومن هغه څوک دی چې دښه خوی خاوند وي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې انسان مړ شي عمل يې قطع شي ؛ خو دريو شيانو تل ثواب ورسيږی او هغه دادي : جاري صدقه ؛ پوهه ؛ علم ؛ چې د خلکو د ګټې وړ ګرځيدلی وي او صالح اولاد چې دعا ورته کوي

هر څوک چې د خپلې روزی د پراخی او د عمر د اوږدوالي او برکت خوښوونکې وي نو د خپلوانو سره دی ښيګڼه وکړي.

څوک چې په يوه مجلس کې خبری کوي او شاوخواته وګوري نو دغه خبره امانته ده. او دمجلس خلک يې بايد افشا نه کړي.

په هر کار کې فکر وکړه که د کار پای ښه درته ښکاره شو هغه پرمخ بوځه او که نه نو ډډه تری وکړه.

ژبه په ښو ويلو عادت کړه په خپلو او پرديو کې به دې دروند کړي بده ژبه به دې په خپلو او پرديو کې سپک کړي.

ای ناصبره ! صبر وکړه او له حقه مه اوړه بريا به ستا وي ځکه چې صبر تيره توره ده.

که په مخکې دې زمری هم ولاړ وي خو چې له سره تير شوې او وپره له زړه وباسې نو زمری درته هيڅ هم نه دي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احمقانو او بیشعوره خلکو خندا او وینا ته غوږ مهږده

تیاره تیارې نشي ورکولی یواځې رڼا یې ورکولی شي کرکه کرکه نشي ورکولی یواځې مینه یې ورکولی شي

کله چه ښه ښځه په کور کې وي خوښی له دېوالونو راولوېږي.

واده عجیبه شی دی کله له زمري ګیدړه او کله له ګیدړې زمری جوړوي

دردونه دوه ډوله دي یو سړی ټپي کوي او بل سړی بدلوي

دری لویې قوې نړی اداره کوي

1. بی عقلي
2. وېره
3. حرص

هره ورځ مو د ژوند تر ټولو ښکلې ورځ وګڼئ

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زرتشت څخه پوښتنه وشوه : ژوند دې په څو اصولو بنا کړی دی ؟ وې ویل : په (څلورو اصولو). لومړی . پوه شوم چې زما روزي بل څوک نه شي خوړلی نو آرامه شوم ، دویم : پوه شوم چې خدای (ج) ما ویني حیا مې وکړه . دریم : پوه شوم چې زما کار بل څوک نه ترسره کوي نو هڅه مې وکړه . څلورم : پوه شوم د کار پای مې مرګ دی نو چمتو شوم

څوک چې په خپل زړه واکمن نه شي نو په هیڅ شي به واکمن نه شي

له دین سره مینه ولره تر څو پاک او سم شې .

له خپل وجدان سره سم چلند کوه تر څو جنتي شې .

خپل روح په غوسې او کرکې مه لړه او هیڅکله تریو او بد خویه مه اوسه

په مجلس کې له ناپوه سره مه کینه چې تا ناپوه ونه ګڼي

که چیرې غواړې چې له چا څخه ښکنځلې وانهورې نو ښکنځلې مه کوه .

له هیچا او هیڅ او هیڅ قانون سره ژمنه مه ماتوه چې زیان در ونه رسیږي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

مغرور او ځان منونکی مه اوسه ځکه چې انسان له باده ډک مشک دی که چیرې باد یې تش شي نو پکې څه نه پاتې کیږي.

ژمنه ماتول د دروغو یوه څانګه ده .

انسان په خپل ژوند کې د ښو او بدو په ټاکلو کې خپلواک دی د هرې ښځې او نر له پاره اړینه ده چې ښې خبرې واوري او په ژوند کې ځپله لاره وټاکي

د هر انسان په ژوند کې د هغه دنده کار او کوښښ د نړۍ آبادي او پرمختګ دی.

هر څوک باید فکر وکړي چې څوک دی له کومه ځایه راغلی او په دې نړۍ کې د څه له پاره ژوند کوي.

انسان چې هرڅه ته هوډ وکړي نو ور وبه رسیږي د انسان فکر د هغه د ژوند جوړونکی دی

هغه خوشحالي چې د نورو د غم په پایله کې تر لاسه شي ګناه ده ،

الله (ج) دا نړۍ د انسان د خوشحالي له پاره په ښه یونلور کې پیدا کړې ده.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلې لور له پاره دې چې کوم خاوند وټاکه نو هغې ته یې ور وپیژنه مګر پرېږده چې وروستۍ ټاکنه په خپله وکړي.

خپله ګټه او ښېګڼه د بل په ژبه کې مه غواړه .

د نړۍ لاره یوه ده هغه هم رښتیا ده .

زه له راتلونکې سره مینه لرم ځکه چې د عمر پاتې برخه مې باید په هغې کې تېره کړم

هغه څه چې اورئ نو په سالم عقل پاک او روښان طبیعت یې وسنجوئ او هغه وخت یې بیا ومنئ

کم ظرفه خلګو په دوره کې غوره ده چې خپل باور او فکر پټ کړئ.

مینه پاتې کیږي مګر انسانان دي چې بدلیږي.

ستاسو ژوند به هغه وخت ښکلی او خوږ شي چې فکر چلند او خبرې مو ښې وي.

د چا په بربادۍ مه خوشحالیږئ هسې نه چې سبا له تاسې سره هم داسې وشې.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې په پاک لمنو تورسرو تور پورې کوي په هغو سلام مه أچوئ

زوکړه د مړينې زيرى دى او مرګ يو بې خبره ملګرى دي.

دښمن په ښه سلوک باور مه کوئ اوبه که تر اوره هرڅومره تودې شي بيا هم د اور مړکولو له پاره بس دي

د ناپوهه مغزه د هغه د ژبې تر شا وي او د هوښيار ژبه د عقل تر شا وي.

سخته ګناه هغه ده چې کونکى يې وړه وګڼي

سياستمداران د ګاډئ د آسونو په شان دي چې د سترګو له بندولو د مچانو له شړلو څخه پرته خوځيدلى نه شى

علم له غلطئ څخه په امن کې دى خو عالمان تل غلطى کوي.

تر څو چې ځواک درسره نه وي اطاعت کوه خو کله چې دې ځواک پيداکړ نو عاجزي کوه.

خندا رواني ستونزې غمونه او مصيبتونه له منځه وړي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا د سړي له پاره خولې یوه خندا ده او یوه خندا د ښځې له پاره یوه دنیا ده.

مور د هغه چا نیالګي یو چې مور پرې ګران وو یانې مور او پلار .

یواځې بې وزله او غربیان دي چې شیان په نغدو پیسو اخلي ځکه چې هیڅوک پر هغو باور نه کوي

که چیرې خوشاله وې ورو وخانده تر څو غم را ویښ نه شي او که چیرې غمجن وې نو ورو وژاړه تر څو خوښي ناهیلې نه شي .

که یو انسان بل انسان ووژني سړی پاتې کیږي که څه هم قاتل دی مګر سړی چې د سړی په وړاندې تیتیږي یا چاپلوسي کوي نور نو سړی نه دی .

تاریخ د سترو میړونو له ژوندانه څخه سر چینه اخلي .

مثبتې هیلې نیکمرغي او منفي هیلې بدمرغي ده

ځوان کولای شي هغه څه چې غواړي ورته ورسیږي په شرط د دې چې د تینګ هوډ لمن خوشې نه کړي .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې ونه پوهیږئ چې چیرته ځئ نو هره لاره به تاسو له ځان سره بوځي .

اې بشره ! که څه هم پیدا شوی یې پاڅیږه او دا ثابته کړه چې اشرف المخلوقات یې

حضرت نبي کریم (ص) د نړیوالو په منځ کې د قریشو په قبیله او د هاشم په کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې او نړۍ یې په خپلو لارښونو او سمونو ( اصلاحاتو) روښانه کړه

هغه څه چې خلک پوهوي د کتابونو لوستل نه بلکې هغه څه دي چې زده کوي یې

د انسان په طبیعت او اخلاقو کې هیڅ داسې کمزورتیا او انحراف نه شته چې په مناسبه روزنه سم نه شي .

ژوند ستره موخه علم نه بلکې عمل دی .

پیسې د کیمیاوي کوډ په څیر دي تر څو هغه وخته چې په ځمکه کې نه وي خپور شوی ګټور نه دی .

دوستان د وخت غله دي .

علم د حقیقت انځور دي .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسود درنښت نه لري .

پوهه په يوازيتوب کې هم يو ستر ځواک دي .

دروا‌غ د بدمرغۍ او بيوزلۍ سرچينه ده .

يوه انسان بخت د هغه په لاسونو کې دي .

پوهه ياني ځواک .

ځوک چې په هر کار کې د وجدان مني نو هيڅکله به غمجن نه شي .

له خطره پرته ګټه کول له خطره پرته تجربه کول له هغې پرته مکافات اخيستل دې ته پاتې کيږي پرته له دې چې وزيږيږئ د ژوند کولو تمه لرئ

پر ځای د دې چې پلورونکی واوسې يو زړه خوږی مشاور واوسه هغه مهال پلور خپله را منځته کيږي .

د انسان وړتيا دومره زياته ده چې کولای شي سل هم مهالي ژوندونه ولري موږ کولای شو هر څه زده کړو او په هرڅه باندې پوه شو .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزنه د بریا کیلي ده مګر دا چې سخته او ډیر وخت ته اړتیا لري نو ډېرئ انسانان لټان دي او زده کړو او په هر څه باندې پوه شو .

په ژوند کې د کلمو ارزښت ډېر مهم دی ښې کلمې غوره سوچونه را منځته کوي .

بریالي کسان د حل په لارو تمرکز کوي مګر منځني کسان د هغه چا په اړه فکر کوي کوم چې ستونزه را منځته کړې ده

ګټونکي هغه کسان دي چې اوږد فکر کوي او منځني کسان لنډ او سطحي فکر کوي .

موږ هر یو باید شل کلنه نقشه ولرو او د اقتصادي ستونزو په اړه د فکر کولو پر ځای خپلو موخو ته رسیدو له پاره کوټلي ګامونه پورته کړو .

هغه کسان چې مالي مهارتونه لري بریالي دي تاسو باید په ورځ کې لږ تر لږه د اقتصاد او پانګونې په اړه دوه ساعته مطالعه وکړئ

په ځان باندې باور باید دومره لوړ وي چې هیڅ څیز یې مخه ونه شي نیولای .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

بريالي پلورونکي  په خپل محصول کار او شرکت باندې مين دي .

ننني ټاکنې ستاسو د راتلونکي ژوند کيفيت جوړوی . تير پريږدئ او د خپلې راتلونکې د جوړونې په اړه فکر وکړئ .

موږ بايد بدلون وکړو که چيرې بدلون ونه کړو نو د ژوند کنټرول به مو له لاسه وتلی وي .

تر ټولو ښه فائده له پوهانو سره دوستي کول دي.

کله چې منزل ته ورسيدلې هغه خلک مه هيروه چې لاره يې درښودلې ده

مهمه نده چې لوی انسان شی  که انسانيت ولرې لوی انسان يې .

د ژوند کتاب مو دوهم ځل چاپ نه لري نو څومره چې مو وس وي  هغومره مينه ناک ژوند وکړئ

هوښيار سړي خپل ځان ملامتوی او کم عقل سړی خپل دوست ملامتوی

اخبار د هر ولس ژبه ده .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

استقلال او ازادی ته په تشو ويناوو څوک نشي رسيدای .

ستونځې او مشکلات همت لوړوي .

کله چې ټولنه رامنځته شي نو موږ ته د سياست ضرورت دي.

فکر د علم د حرکت پايله ده .

انسان فطرتأ آزاد پيدا شوی دی .

انسان په وينا تلل کيږي او په عمل قيمت کيږي .

اوسنۍ دنيا يوازي ويلو ته ضرورت نه لري بلکي کار هم غواړي.

د رازونو په څرګندولو کې ريښتيا خبري راځي او ريښتيا ويل ترخه وي.

هيڅ يو انسان په يوازي سر بې د نورو له مشورې او مرستي څخه حقيقي برياليتوب ته رسيدلای نه سي

د پوهي رڼا ليري نه ده خو چې زه او ته ځانونه ورځينی ليري ونه ساتو .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسوس دي وي د هغه چا پر حال چې کال نوي سي خو د ده ژوند زوړ وي يا نوي کال د نوی ژوند نوي ارزوګاني راوړي خو د ده زړې ارزوګاني لاهم ترسره سوي نه وي .

## بريالیتوب له ناکامۍ څخه لاسته راځي .

د نورو د روازې تکول هيڅ ګټه نه لري د خپلو خيالونو د رښتيا کولو لپاره موږ حللاري ته اړتيا لرو

موږ بايد خپل ويده ځواک را بيداره کړو او له خپل تير وخت نه درس واخلو

ذهنونه داسي روښانه کړو چې د ملت لپاره د سولي خوښۍ برکت او نيکبختۍ سبب وشي.

موږ بايد د خپل ژوند لپاره موخي وټاکو ځکه موخي ټاکل ذهنونه بيداروي.

که هر څومره له ستونزو سره مخامخ کيږو بايد زغم او حوصله له لاسه ورنه کړو.

که موږ موخه ولرو نو پرمختګ هم کولای شو.

ای خدايه، زما د هيوادوالو په ذهن کي فکر او عمل دواړه پيدا کړې او هغوی په اتفاق ولري.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره هوښيار هغه دی چې هرڅه ته د عبرت په سترګه وګوري.

باور د زړه دننه علم دي.

دښځو خبرو ته هغه وخت غوږ ونيسئ چې نورو ته يئ کوي نه هغه وخت چې تا ته يئ کوي.

لوست او پوهه هغه پانګه ده چې زورواکان او ظالمان ئي له چا نشي اخيستلای.

د ونو ژوند په حاصل کې دی وني حاصل ورکوي چې ژوندۍ پاته شي که حاصل ورنه کړی ژوند ئي ختم دي.

نړۍ يو دريځ دی او ټول نارينه او ښځينه يوازي لوبغاړي دي.

دنيا دومره سخته ده چې څوک ئي د فلسفې په کتابونو نشي پيژندای.

سکې هر وخت شور کوي خو پيسې هميشه غلي وی کله چې دی ارزښت لوړيږي خاموش اوسه.

ای مغرور انسانه ته تر اسمان لاندي د لږ قدرت پيداکولو په خاطر داسي څه کوې چې پرښتې ژړوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونه د بشر لویه احتراع ده.

کتاب مي هغه ملګری دي چې د یوازیتوب سختي شیبې راسره تجربه کوي

هیڅکله د چا له احساساتو سره لوبې مه کوه کیدای شي لوبه وګټې خو هغه شخص به د تل لپاره وبایلې.

ملګرتیا لوی نعمت دی نیکمرغي ډېروي بدمرغي کموي.

څوک چې قانع مسکین وي شتـمـن دي.

ژوند سختي هیري کړه او په خلاصه غېږ ئې هر کلي ته ورشه

د ښځي پر ژبه د ټولي نړۍ شات او زهر پراته دي چې هر یو وغواړي کارولای ئې شي.

موږ په خپلو سینو کي یوه اسماني وړانګه لرو چې نوم ئې وجدان دي.

هر څوک چې قناعت نه لري تر ټولو غریب دي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند هر چاته خوږ او د قدر وړ دی لیکن میړني او بهادر انسان ته عزت له هر څه زیات ارزښت لري.

د اولاد لپاره په دنیا کې بهترین ځای مور زړه دي.

له همت بغیر د بریالیتوب فکر مه کوه .

که هم د واوري په شان پاک یاست خو له تومته نشې خلاصیداي.

بدمرغي د هوښیارۍ زیږنده ده.

که بدرنګي نه وای ښکلا به بې معنا وه.

هر ښوونځي چې مو پرانیست د زندان یو ور مو وتاړه ..

باید د ټولو لپاره د علم دروازې پرانیستل شي هر چیرته چې کرنه ده او هر چیرې چې انسان دی نو هلته باید کتاب هم وي.

لوږه او بیوزلي نر جنایت او ښځه فحشا ته هڅوي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدمرغي اروا وړتيا عقل او پوهه روزي.

واده يو پيوند دی يا به ښه مېوه نيسي يا بده .

تر ټولنپکمرغه هغه څوک دی چې له دې دوه څیزونو څخه یوه ته لاسرسی ولري لومړي ښه کتاب او بل داسي دوست چې د کتاب اهل وي.

په هر ولس کې يو څراغ شته چې ټولو خلګو ته رڼا ورکوي هغه ښوونکی دي.

د ماشومانو راتلونکې د مور او پلار په روزنه پورې تړاو لري.

د توري ملا د قلم پر وړاندي ماته ده.

هغه لاسونه بختور دي چې د توري پر ځای پکي قلم نيول کيږي.

هر انسان له خپلو پوښتنو پيژندل کيږي نه له ځوابونو.

کتاب پر توله نړۍ او يا لږ تر لږه پر لوستو خلګو حکومت کوي له دې حکومت نه وتي خلک کوم ارزښت نه لري.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پر بېوزلو غوسه شې نو ځواکمن نه يې.

زما په لاس کې چې تل د ادب قلم وي نو د پاچاهۍ د تاج پروا نه لرم.

د ښځو يوه دنده ، دا ده چې د نارينه وو اخلاق وروزي.

د نورو په کا کې کار لرل او د نورو په کاميابۍ باندي زړه خوړل په ژوند کې د ماتې او ناکامۍ سبب ګرځي.

د عواطفو ساحه د فکر له ژورتيا او پراختيا سره اړه لري او فکر مطالعه سره ښه غوړېږي.

انسان د خپل ځان ساتلو او پاللو باندې مجبور دي.

موږ بايد تل اخلاق جوړ کړو او ارزښتونه وپنځوو.

هر څومره چې ژوند سختيږي هغومره اسانيږي.

کله چې بډايان جګړه جوړوي دا فقيران دي چې ژوند پکې له لاسه ورکوي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ شی تر ، زړه ، اسانه نه ماتیږي.

یوازې په غوښتلو او اراده کولو باندی سړی نه شي کولی قهرمان شي د قهرمان کېدلو لپاره قهرمانه عمل پکار دي.

زما په اند د ژوند په اړه چې پر هر څه پوهیږم له کتابونو مې زده کړي دي.

دا په یاد ولرئ چې علم پرته له شخصیته او سوداګري پرته له اخلاقو امکان نه لري.

که نشو کولای چې آزاد ژوند وکړو بیا مرګ بهتره دي.

اصلي شتمني پیسې طلا نقره نه ده بلکي اصلي شتمني روغ صحت دي.

داسي ژوند وکړه لکه سبا چې مرې او داسي زده کړه وکړه تر ابده چې پرې ژوندی یې.

په هر شي کي نوي وټاکئ اما په ملګرو کي زاړه.

په خپلو تیروتنو مه شرمیږئ او هغه جرم مه ګڼئ.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

🌺شتمن چې بې وزله شي ښوونکی ترې جوړ شي.

🌺کينه لرونکي په نورو ژوند تريخوي.

🌺ددې پرځای چې علم وسپموئ ګټه ترې واخلئ.

🌺تينګه اراده او مقاومت ولرئ نو حتما بريالی کيږئ.

🌺دقت او نظم د برياليتوب نتيجه ده.

🌺هغه څوک چې د کمال په لټه کې وي هغه بايد هوښيار او پوه وي.

🌺د زړه احساس له منطق نه لوړ وي.

🌺زه کتاب ليکم تر څو له خلګو سره مرسته وکړم چې په خپلو کارونو کې بريالي شي.

🌺که څوک طبيعي استعداد لري د برياليتوب لپاره بايد تمرين هم وکړي.

🌺جامې زړې واغوندئ خو کتاب نوی واخلئ.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه لیکوال لویه هیله دا ده چې خلک یی کتابونه ولولي.

کامیابي یواځې په دې کې ده چې وکولای شئ ژوند په خپله بڼه پر مخ بوځئ.

سپما د عاید سرچینه ده.

مننه کول تر ټولو ښه خوی او نېکیو پلار دی دا خوی مه هیروئ.

تر ټولو صالحه اولاد هغه دی چې د دوی کړنې د مور او پلار د ویاړ سبب شي.

که غواړئ هوسا اوسئ نور هوسا کړئ.

مور او پلار په نړی کې تر ټولو ارزښت لرونکي دي،

په ژوند کې مو د مثبت بدلون لپاره په خپله کوښښ وکړئ.

هغه خلک ځومره ښکلي دي چې مسکا یې پر شونډو خپره وي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمنانو د کمولو لپاره غوره لاره د دوستانو ډېرول دي.

که ایمان او عقیدی سره ژوند وکړئ هیڅکله به مات نه شئ.

په ژوند کې مهمه دا ده چې انسان هدف ولري او هدف ته د رسیدو لپاره له خپل استعداد ګټه واخلي.

که لومړی وار بریالی نه شوی بیا بیا هڅه وکړه خو هدف مه پرېږده.

لوی خدای (ج) له هغو کسانو سره مرسته کوي چې عقیده او ایمان لري.

یوه ملت آزادی له لارې ښوونې او روزنې ته لاره مومي نه برعکس .

د اخلاقو خاوندان د ټولنې روح دي.

لوی فکر او دعا وکړئ لویه عقیده او ایمان ولرئ لوی عمل او لویه مینه وکړئ او د ټول ژوند په اوږدو کې لوړ او لوی وه اوسئ.

ستونزو ته هیڅکله وخت مه ورکوئ چې ځان غټ در وپیژني.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د علم حاصلول ژوند ته تیاری نه بلکې علم خپله ژوند دي.**

**په نړۍ کې دوه شیان ډېر ښکلي دي ستوري په اسمان کې او ارامه وجدان .**

**د ښایسته ښځې موسکا د لمر وړانګو ته ورته ده چې بدن زړه او عقل ته خوښي وربښي.**

**هغه چا سره مینه وکړئ کوم چې تاسو ته نصحت کوي نه له هغو سره چې ستاسو ستاینه کوي.**

**له هغه څه سره چې مینه لرئ په لاس یې راوړئ او هغه څه مو چې په لاس راوړي له هغه سره مینه وکړئ.**

**هغه کسان چې ښه فکر کوي اړتیا نه شته چې ډېر فکر وکړي.**

**هغه کسان چې په ژمنو وفا کوي هغه تر ټولو غښتلي خلک دي.**

**په لړو مسایلو ډېر پوهېدل د پوهې مهارت دي.**

**انسان هغه موجود دی چې له هر شي سره عادت کیږي.**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېروتنه د انسان يو كار دى خو تكرار يې يوه حيواني كړنه ده .

هغه كسان چې قدرت په پيسو اخلئ هغوي عدالت په پيسو پلوري.

هغه كسان چې د مور او پلار عزت نه كوي خداى (ج) د هغوى لمونځونه نه قبلوي.

داسې يو څه وليكئ چې خلګ يې ولولئ يا داسې څه وكړئ چې خلګ پرې ليكنه وكړي.

ښځې تل د دولت او شهرت په فكركې وي خو نارينه د يوې مېرى ډوډوى.

هوښيار خلګ له خپل قسمت سره يو ځاى روان وي.

عقلمند انسان د ځان لپاره فرصت نه لټوي بلكي پيدا كوي يې.

د نارينه وو د زړه اړيكه له دماغ سره وي او د ښځو د زړه اړيكه له ژبې سره .

سياست يو هنر دى خو جمهوريت منل شوې ناپوهي ده.

ددې پر ځاى چې څو كتابونه ولولئ ښه داده چې يو ښه كتاب څو ځلې ولولئ.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ټولو بد کار د کتاب نه لوستل او د هغه پر ارزښت نه پوهیدل دي.

مطالعه ستاسو د بریالیتوب سبب کیږي.

بې حکومته ژوند کولای شو خو له کتاب او مطبوعاتو يې نه شو کولای .

فلسفه له کتاب څخه نه، له ژوند سرچینه اخلي.

علم هغه کلی ده چې تل د ازادۍ دروازې پرانیزي.

له زده کړې ورسته هر بدلون مثبت وي.

زده کړه د انسان د جهل او ناپوهي تدریجي کشف کوي.

قلم د ذهن ژبه ده.

قلم رنګ ستاسو په واک کې دی جنت رسم کړئ او ور داخل شئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علم ريښې ترخې خو ميوې يې خوږې وې.

که حرام اوسيدل غواړئ نو له خلګو سره وعدې کمې کوئ .

د انسان ژوند د هغه له افکارو جوړ شوی دی.

عقل يو ځواک دی چې نړۍ اداره کوي.

انسان هغه کس دی چې خپل ژوند پخپله جوړولی شي.

بدبخت هغه کس دی چې خلګ ترې ډاريږي.

خلګ هغه وخت تاسو ته ارزښت درکوي چې پوه شي تاسو اهميت ورکوي.

د نورو خدمت وکړئ مخکې له دې چې ستاسو خدمت وکړئ.

هغه خلګ چې توان او طاقت لري ارده نه لري.

درې اړين ټکي له ياده مه باسئ : خپلوانو درناوی : نورو درناوی او د خپل کار مسووليت .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی د ځان په اړه پوه شئ ورسته د نورو تاریخ ولولئ .

تر ټولو ښه  ژباړن هغه دی چې د نورو چوپتیا وژباړي.

د ښه ژوند لپاره د سپي په څیر کار وکړئ، د اسپ په څیر وخورئ ،د ګیدړې په څیر فکر وکړئ، او د سویی په څیر منډه وکړئ.

بدبختي مونږ ته دا راښي چې نېکمرغه و اوسو.

په یاد ولرئ ځینې وخت چوپتیا ترټولو ښه ځواب دی.

تر ټولو ښه سیاست صداقت دي.

پرون تاریخ دی سبا راز او نن ډالۍ ده.

څوک چې بی وخته خبرې کوي خبرې یې ارزښت له لاسه ورکوي.

ځان لوی بلل لویه بدبختي ده .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ځلې چې ولوېدې اتم وار هم جګ شه .

انسانیت حقیقت ته اړتیا لري.

په ځمکه کې تر انسان او په انسان کې تر فکر لوی څیز نشته .

د ماشومانو د روزلو پر وخت لومړی باید د هغوی شخصیت او اړتیاوو ته پام وشي.

سعادت عادت دی هغه وروزئ.

یو څوک د ځینو لپاره یو کس خو د ځینو لپاره ټوله نړی وي.

د انسان د شخصیت ستر دښمن ډار دی.

لومړی او تر ټولو لوی بری په ځان تسلط دی.

تر ټول بده دا ده چې یو شخص خپله د ځان ستاینه کوي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله د انسان په ژوند کې دومره مهمه ده، لکه د مرغۍ لپاره د وزرونو .

له خاوند سره د کتاب په څير چلند وکړه، ستړي کوونکي فصلونه يې مه لوله .

اخلاق بايد پر هنر حکومت وکړي.

که غواړئ چې شخصيت ته مو زيان ونه رسيږي، نو دعا خپل عادت وګرځوئ.

نېکمرغي د ذهن کيفيت دی، چې فکر ترې خوند اخلي.

لويې ځاه ګانې له چينو او لوی زړونه له اوښکو ډک دي.

که غواړئ چې اوږد عمر ولرې، بايد خوشحاله ژوند وکړئ.

په دريو وختونو کې بايد د دريو شيانو کلک ساتونکي واوسو: په تنهايۍ کې د افکارو، په کور کې د اخلاقو، او په ټولنه کې د ژبې.

په نړۍ کې يواځې دوه شيان ښايسته دی : ښځه او ګل .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زموږ په ژوند کې ترټولو لویه ستونزه دا ده چې په خپل کار کې نظم او ترتیب نه لرو.

- که غواړئ چې مشري تر لاسه کړئ نو لومړی اقدام وکړئ.

- ماشومانو ته وخت ورکړئ چې ماشومتوب تیر کړي.

- مینه کولای شي چې لوړ مقام ته مو ورسوي.

- خلک دا نه خوښوي، چې ستاسو د انګړ دروازه وټکوي او د ملګرتیا غوښتنه در څخه وکړي، تاسو خپله باید ملګري وموميئ.

- هغه اور چې زموږ ځان او مال سځي، ډېری وخت مو خپله بل کړی وي.

- ښوونکی د ملتونو هغه څراغ دی، چې له رڼا یې هر وګړی ګټه اخلي.

- اخلاق جوړ شوی شي نه دی، بلکې ذره ذره او ورځ په ورځ رامنځته کیږي.

- مینه مو وژني، څو دویم ځلې ژوند راکړي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوک چې ايمان لري ، د هغه لپاره د (ناشونې ) کلمه نشته .

که له ښايسته سره درنښت ونه لرئ، نو ښايست مو لکه بې بويه عطر او بې بويه ګل دی.

دنيا د هغو کسانو ده، چې انرژي او توده وينه لري.

د ماشومانو برخليک په مور او پلار پورې تړلی دی.

د زده کړو هدف د ماشين جوړول نه دي ، بلکې موخه يې د انسان جوړول دي.

د حق پيژندنه د زده کړو نښه ده، که غواړو چې اولادونه مو حق پيژندونکي وي ، نو بايد په زده کړو يې سنبال کړو.

د آزادۍ د روزنې لپاره تر ټولو ښه وخت د ځوانۍ دوره ده.

لنډ متلونه له اوږدو تجربو وروسته را منځته شوي دي.

له زده کړو تل پوهيدل ښه دي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غواړئ چې عمر مو ډیر شي، په ځوانۍ کې سپین ږیري شئ.

زده کړې باید د ماشومتوب له دورې پیل او د ژوند په هره دوره کې دوام ولري.

ټول زده کړو ته اړتیا لرو، له وزیره نیولې تر کارګره.

باید خپل نفس او ذهن له بیکاره شیانو څخه په یوه خوا کړي او پر خپل نفس په پام کې ونیسي.

سخاوت دانه دی چې سړی چاته ډیر څه ورکوي بلکه په ځای ورکړه سخاوت دی.

دا مه وایه چې ژوند تل ترتله مصیبت دی ځکه دا د بې زړه او ضعیفو خلکو خبره ده.

مسئولیت ته غیږه ورکړه ، پریږده چې هرڅه پیښیږي پیښ دې شي.

له یاده مه ، وباسئ ! ژوند د بدلون امکان شته نورو دا کار کړی دي.

د خپلو هیلو او ځان ترمنځ فاصله ، یوازې په یوه مثبت او قاطع تصمیم سره ډکه کړئ.

کله چې د کوم کار د کولو لپاره ملا تړې ، په بشپړ ډول د شک دروازې وتړه .

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې خدای (ج) درانه پيداکړي يئ او په درنښت ارزئ که چيرې خپل ځان په وړه تله وتلئ نو همداسې به سپک او واړه وخيژئ.

قدرت او تسلط دا دی، چې خپل ژوند ته بدلون ورکړئ ، خپل فکري جريانات بدل کړئ ، خپل کردار کنترول کړئ، خپل پلانونه رهبري کړئ او هغه نتايج په لاس راوړئ، چې هيله يې لرئ.

له خپلې اداري سره ووايه : زه بايد موفق شم ! زه بايد موفق شم ! زه له موفقيت پرته بله چاره نه لرم.

خبر ولرئ، تاسې هغه نه يئ چې نور خلګ ستاسې په اړه څه وايي او فکر کوي.

مهمه نه ده، چې زموږ موقعيت پخوا څه و او اوس څه شی دی؟ مهم هغه راتلونکی دی، چې د هغو د لاسته راوړلو لپاره په هڅه او تلاش کې يو.

که چيرې د زړه له تله باور ولرې چې بريالی کيږم ، نو حتماً به بريالی راووځې.

که نن د بدلون پر اوږو باندي سفرونه کړې سبا به هرومرو د هغه تر پښو لاندي پروت يئ.

هغه څوک چې تاغوسه کولای سي تا فتح کولای هم سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ یوازې هغه څوک هوښیار ګڼو چې زموږ سره سر ښوروي.

تر څو چې دي خپل هنر خلګو ته نه وي ښوولي مه پرېږده مړ سې.

عقل د هغو فکرونو څخه ځان ګوښه کوي چې د کمزورۍ سبب کېږي.

د سولي په وخت کي اولادونه خپل مشران ښخوي خو د جګړې په وختکي مشران خپل اولادونه خاورو ته سپاري.

ته په هغه ذهنت مشکل نسې حلولای چې دغه مشکل یئ زېږولي دی.

د ښځي مړه کاته ډېره پیاوړې تلکه ده.

حتي که ډېر ښایسته انسان په غوسه سي لاهم بد ایسي .

ستر مغزونه د مفکورو په باره کي ږغیږي ، متوسطه مغزونه ، د پیښنو په هلکه خبري کوي ، او کوچیني مغزونه د خلګو په اړه بیان کوي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرون تاریخ دی نن سوغات دی سبا معماده.

مهربان زړه باغ دی ، مهربان فکر ریښه ده ، مهربان خبره ګل دی ، مهربان عمل میوه ده.

تر څو چې ژوندی یئ خوشحاله اوسه بیا د تل دپاره مړ یئ

که ته رښتیا ووایی هیڅکله به ضرورت ونلرې چې کم شې په یاد وساتې.

هر څوک چې تا څخه مخامخ بیریږي په غیاب کې کرکه در څخه کوي.

هغه وخت چې لمر ځلیږي هیڅوک نه ورته ګوري کله چې دي تندر ونیسي هر څوک ورته ځیرسي.

قهر سړی د حقیقت څخه لیري کوي.

انسان او طبیعت چې سره جمع سي نو هنر ځیني جوړ سي.

د ژوند هنر د غیږي ایستلو د سپورټ په شان دی په دغه لوبه کي باید انسان کلک ودریږي او هرناڅاپي برید ته تیارسي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوند د هغه کار په کولو کې دي چې خلګ وايی ته يې نسي کولاى.

د خپل ځان د خوشحاله کولو ښه لاره دا ده چې بل څوک خوشحاله کړي.

د ادب او اخترام کولو خوند دښي نڅا د خوند په شان دی.

د ډوډۍ پرهيز جسمي روغتيا راکوي، او د خبرو پرهيز روحي سلامتيا.

ژوند د بايسيکل د چلولو غوندي دی، سړې تر هغو پوري نه ځيني رالويږي چې پايډل وهل يې بس کړي نه وي.

ناکامي د برياليتوب لوي لارښودي.

ستر خلګ د طبيعت غوندي ساده ژبه استعمالوي.

ستري مفکورې په زړه کي راپيدا کيږي.

دا يو عمومي قاعده ده هغه څوک چې زيات معلومات لري ډېر موفق دي

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوک چې کتاب سوځوي هغه يوه ورځ انسان هم سوځوي.

ملګرتيا هر وخت خوند لري خو مينه کله کله سړي زخمي کوي.

موسيقي تر فلسفې لا عالي سويه غواړي.

ژوند د غمونو څخه د ځان د بچولو هنر دی.

د پوهي په قدر پوهيدل پوهه غواړي ، هغه موسيقي هيڅ شي نده چې اوريدونکي يی کاڼه وي.

زوړ دوست لرل کمال دی..

هغه څوک چې پوښتنه کوي د څو شيبو د پاره بيعقل معلوميږي ، هغه څوک چې پوښتنه نه کوي د ټول عمر دپاره بيعقل پاته کيږي.

کله چې زه تر روحي فشار لاندي يم که د ګروم احساس وکړم خاندم ، که مي طبيعت خراب سي دوه برابره کار کوم ، که د بيري احساس وکړم مخ په وړاندي ځم که د سپکاوي احساس وکړم خپل نوي کالي اغوندم ، که ځان بې باوره راته وايسي خپل اواز لوړوم ، که د غريبۍ احساس وکړم د راتلونکي شتمنۍ فکرونه

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوم ، که د بې چارګۍ چرت راته پیداسي دخپلو پخوانیو بر بر یالیتوبونو په باره کي فکر کوم ، که د ځان بې اهمیته و ایسي خپل راتلونکي هدفونه شمیرم ، نوبه هغه وخت زه د خپلو احساساتو بادار یم .**

**کله چې اشتباه وکړي هغې ته ترشا ډېر مه ګوره ، د هغې د علت په باب فکر وکړه او مخ په وړاندي ځه.**

**هیڅکله د ځان ستاینه مه کوه ځکه ستا ضرورت نه ورته لري او دښمنان دي باور نه په کوي.**

**دوستان راځي او ځي خو دښمنان سره جمع کیږي.**

**زوړ سړي چې مین سي لکه ګلاب چې په ژمي کې وغوړیږي.**

**ژوند چانسونو لوبه ده.**

**هغه امپراطوري چي د جګړې په زور جوړه سوې وي باید د جګړې په زور وساتله سي.**

**د ځینو انسانانو په مغزو کې یو میلیون خفیقتونه ثبت وي ، خو بیا هم بې سواده وي.**

**علم د تمدن د لیږد وسیله ده.**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک فقیر وي ، خو قناعت کوونکی وي هغه په حقیقت کې شتمن دی.

ښه انسان هغه دی چې د هرچا د حق دفاع وکړي.

مینه ښځي ته ژوند وربښي او سړي ته رنځ.

نړۍ ټوله ښکلې او ښایسته ده ، خو که موږ ورته لږ ځېر شو .

د هوښیار پانګه د هغه علم او پوهه ده .

نېکمرغي څلور عوامل لري : روغتیا، ښایست ، شتمني او ښه ملګری.

هر هغه څه مو چې نه وژني ، تاسو غښتلي کوي.

ډېری ناپوه خلک یواځې د ګټي غوښتونکي وي، په دې نه پوهېږي چې په کار وبار کې څومره حقیقت دی.

په ژوند کې داسي اوسئ ، که هر څوک بدر پسي ووایی ، چې هېڅوک یې ونه مني.

که خلک ما ونه پېژني پروا نه لري ، خو که زه خلک ونه پېژنم هرومرو به خپه شم.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځوک چې د نورو د ښېګڼو ساتنې ته لېوال وي ، هغه په حقيقت کې د خپلو ښېګڼو ساتنه وکړه.**

**که په غلطه لاره لاړې ، نو له بېرته را ګرځېدو څخه يې مه وېرېږه .**

**مخکښ انسان هغه دی، چې په وينا کې بيړه ونه کړي او په کار کې خوښني ښکاره کړي.**

**ځوک چې په حقيقت پوه وي، له هغه چا سره ډېر توپير لري ، کوم چې حقيقت پرې ګران دی.**

**حق تل له وېرې پرته بيان کړه او شيطان وشرموه.**

**پوهه انسان له شک څخه ژغوري، اخلاقي لوړتيا هغه ته له درد او غم څخه نجات ورکوي او لوړ همت او اراده هغه له وېرې څخه ژغوري.**

**د دې پر ځای چې په تياره لعنت ووايئ ، نو يوه شمعه بله کړئ.**

**د بېوزلو او غريبانو داسې درناوی وکړئ ، لکه له پاچا سره چې مخامخ کېږئ.**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

زاړه معلومات په کار اچول او د هغه له مخې نوي معلومات تر لاسه کول ، زمونږ د زده کړې له عمده اصولو څخه دي، څوک چې دغه چاره پر ځای کوي ، هغه ته ښوونکی ویلی شو.

غوره په ساسو کې هغه څوک دی چې قرانکریم زده کړي او نورو ته یې وښايي.

چغلي کوونکي به جنت ته نه داخلیږي.

څوک چې په نورو رحم نه کوي ، الله تعالی به په هغه رحم ونه کړي.

د رحمت ملایکې نه داخلیږي هغه کورته چې په هغه کې سپی او یا هم عکسونه وي.

په دنیا کې داسې ژوند تیروه لکه بې وزله او یا هم لاروی.

څوک چې د یو مسلمان عیبونه پټ کړي، الله تعالی به یې په قیامت کې دده عیبونه پټ کړي.

د پرتوګ یا لنګ هغه حصه چې د ښنګرو څخه لاندې وي هغه به په دوزخ کې وي.

الله تعالي ته خوښ ځایونه مسجدونه دي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الله تعالي ته بد يا نا خوښ ځايونه بازارونه دي.**

**كينه نيک اعمال داسې له منځه وړي، لکه اور چې لرګي له منځه وړي.**

**غوره ذکر (لااله الاالله) ده ، او غوره دعا (الحمدالله) ده.**

**مجلسونه امانت دي.**

**انسان به دقيامت په ورځ د هغه چا سره وي، له چاسره چې يې مينه وي.**

**غوره په خلكو كې هغه څوک دی، چې نورو ته يې ګټه ورسيږي.**

**د غوره اخلاقو څخه بل لوړ هيڅ شی نه شته**

**د ښو اخلاقو لرونکی انسان د ښه وجدان لرونکی هم دی.**

**د مرګ لپاره تیاری هوښیار توب دی.**

**د خپلې روغتيا لپاره ډېرې اوبه څښئ.**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځان باور په انسان کې قوت پيداکوي.

غوره ملګرى هغه دى، چې په ليدلو يې تاته الله تعالى درياد شي.

په زړونو کې اړسيدل زده کړئ، کورونو کې خوهر څوک اوسيږي.

ادب د سرو او سپينو زرو نه غوره دولت دى.

زه چې نن دومره ځاى ته رسيدلى يم د مور له برکته .

خاموشي هغه دوست دى، چې هيڅ کله دې نه رسوا کوي.

د دين زده کول ستره پانګه ده.

د بدې ښځې او بد ګاونډي څخه ځان ساته.

ښه ښځه د ميره تاج دى.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول هغه خلک چې له تاسره خاندي، ستا دوستان نه دي.

د انسان د ژوند اساس مور ده.

ناکامي د بریالیتوب لپاره شرط ده.\

موسیقي اوریدل انسان بې حیاء کوي.

بې مشورې کار بې مالکې خواره دي.

بریالي خلک د خلکو په خبرو پسې نه ګرځي.

زموږ لپاره دا ویاړ هم بس دی، چې د الله تعالي بنده ګان یوو.

ددعاء د نه قبلیدو وروسته مه خفه کیږه ځکه الله تعالي له تا ډېر ښه پوهیږي.

شاته کتل او په تیرو پیښماني، فقط وخت ضایع کول او بس .

مسلمان باید د ګناه په وخت له خپل نوم څخه وشرمیږي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې ډېرې خبرې کوي، عزت يې کمېږي.

عاجزي د انسان ښکلا ده.

له يوه څه سره ډېره مينه انسان له ايمان څخه خلاصوي.

تل د الله تعالي څخه غوښتوونکي اوسه.

مور د اولاد په تربيه کې تر چا زيات رول لري.

ځوک چې د دنياوي ګټې په خاطر علم زده کوي ، علم دهغه په زړه کې ځای نه نيسي

بې علمه عمل بې ساه جسد دی.

له صبر، زغم او حوصلې سره ځان عادت کړي.

چا چې ستا بدي بيانوله ، ته تې نيکي بيانوه.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یوه ورځ ستا مقام ټیټ شو نو خفه کیږه مه، ځکه لمر هره ورځ په دې نیت ډوبیږي، سبا به بیا راخیژم.

په کار کې تیروتنه تیروتنه نه ده ، بلکې عبرت دی.

ښکلا د الله تعالی تحفه ده.

ویره او امید د تل لپاره سره یو ځای وي.

هیله د غریبانو ورځیني خواړه دي.

له نن پرته هیڅ ارزښت لرونکي شي نه شته .

یوه مور له سلو استادانو غوره ده.

افسوس چې ځوان پوهیدلای ، او بوډا توانیدلای

موسکا لګښت نه لري خو ګټه یې زیاته ده.

طلا په اور، ښځه په طلا او سړی په ښځه ازمایل کیدای شي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبور يم چې سپورټ وکړم ، او کنه عقل مې ورستيږي.

ډېرې بې ګټې خبرې سړی کمزوری ښکاره کوي.

مهمه دا نه ده چې ښکلی شې ، ښکلا داده چې مهم شې.

د هغه څه په هکله چې پرې خبر نه يې هيڅ هم مه وايه.

د نړۍ په دوه قومونو اعتبار مه کوئ، يهود او بني اسرائيل.

د خلکو عيبونو ته پاملرنه زمونږ تر ټولو او چت صفت دی.

د هيچا زړه مه خفه کوي ، ځکه ته هم زړه لري.

هر څوک ځواني تيروي خو مهمه داده چې څنګه يې تيروي.

لوی کارونه هميشه په لومړي سر کې ناشوني ښکاري.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په مسجد کې مو د ماشومانو اوازونه وانه وریدل ، نو د راتلونکي نسل څخه وویریږي.

د دوستانو او خپلوانو د زیاتیدلو هڅه کوه، مخالفین په خپله کمیږي.

ښه دوست پیدا کول ستا قسمت دی، او ساتل یې ستا هنر دی.

ریښتیني مینه وینه غواړي.

په یوه خندا انسان ته هره دروازه خلاصیږي.

په وعدو باور مه کوئ، ځکه نړۍ ټوله له وعدو ډکه ده.

د غوسې درمل خاموشي ده.

هرښایسته شي ښه نه وي، لکن هر ښه شي حتماً ښایسته وي.

له هغه ناپوه نه تښته چې ځانته پوه وایي.

راځئ چې شتمن ژوند وکړو نه داسې چې شتمن مړه شو.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوي برياليتوب د ملګرو تر منځ اعتماد او باور دی.

لوړ همت او ټینګ هوډ ډېرې اوبه کوي.

په انسان زیات مشکلات د هغه د ژبې له امله راځي.

خونه پرته له کتابه داسې وي لکه بې روحه جسد.

بدبین خلک تل نیوکي کوي.

هوښیار خلک په خیال کې نه بلکي په عمل کې ژوند کوي.

پوهه، تجربه او هڅه د برياليتوب مهم عناصر دي.

خطر منوونکی انسان تل لوی کارونه کوي.

خبرې کول اړتیا ده خو چوپتیا یو هنر دی.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروغ که په طلایئ لیک ولیکل شي بیا هم دروغ دي.

یا منلې خبره ولره یا منلی زړه .

د دولت ساتنه به ته کوې، خو علم ستا ساتنه کوي.

هغه کسان، چې په سپېڅلو، ښکلو فطرتي افکارو سره د نورو په زړونو کې ځای لري، هېڅکله له هېرولو څخه وېره نه لري، ځکه چې تل پاتې دي.

باران واوسه، وورېږه او پوښتنه مه کوه، چې تشې کاسې د چا دي.

تل له یو بل سره یو زړي او صمیمي پاتې شئ، تر څو یووالی مو ټینګ پاتې شي.

له هغو کسانو څخه مننه کووم، چې له مانه کرکه کوي، ځکه چې هغوي ماته ځواک رابښي له هغو کسانو څخه مننه کووم، چې له ما سره مینه لري، ځکه هغوی زما زړه د ستروي له هغو کسانو مننه کووم، چې ما پرېږدي، ځکه هغوی ماته دا را زده کوي، چې هېڅ څیز تل پاتې نه دی له هغو کسانو څخه هم مننه کووم، چې له ماسره پاتې کیږي، ځکه هغوی ماته د ریښتیني ملګري مانا را ښیي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یاد ولره، ترڅو تل و پوهیږې، چې د انسان تر ټولو ښکلی طبیعت دهغه مینه ده، نو مینه وکړئ، که له دوست سره وي او که دښمن سره ، ځکه چې دوست ستروي او دښمن دوستوي.

ډېری خلک بې انصافه بې منطقه او ځان محوره دي، مګر هغوی وبښه.

ننني ښېګنې دې هېرې کړه، مګر ښېګنه کوونکی اوسه.

ټولې ښېګنې دې دنیا ته وبښه ، حتی که بسنه هم ونه کړي او په پایله کې به وګورې، هر هغه څه چې دي ، تل ستا او د الله(ج) تر منځ دي، نه ستا او د خلکو ترمنځ.

لمر هغې ګیاه ته تودوخه ورکوي، چې خپل سر یې له خاورو څخه را پورته کړي وي.

کله چې ژوند تاسو ته زیات څه نه درکوي، دا په دې مانا ده ، چې تاسو له هغه څخه زیات څه نه دي غوښتي.

هر ورور، چې د خپل ورور له ګټو څخه د خپلې ګټې په څېر ملاتړ کوي نو خپل کار ته یې رونق ورکړی.

مخکې تر دې چې ځواب ورکړې، نو له یوه کس سره مشوره وکړه، مګر تر دې چې هوډ وکړې له څو کسانو سره مشوره وکړه.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان هماغه ډول کیږي، چې ډېر يې په اړه فکر کوي.

زه د یقین او عدالت مرستندوی یم، زه به ژوندونه جوړ کړم او زه به ډېرې خوښۍ راوړم

له پوه او شرم لرونکي نجلۍ سره واده وکړه، او له هغې سره مینه ولره، د خپل ځان له پاره ښځه وټاکه او د بل چا ښځې ته دوکه مه ورکوه، ترڅو اروا دې ګناهکاره نه شي.

د چا مال او شتمني ته سترګې مه نیسه، ځکه د دنیا مال او شتمني د هغې مرغۍ په څېر ده، چې کله په یوې کله په بلې ونې باندې کېني او په هېڅ ښاخ باندې نه پاتې کیږي.

د مور او پلار امر پرځای کوه، ځکله د چا چې مور او پلار ژوندي دي، دهغه زمری په څېر دی، چې په ځنګله کې په آرامه ویده دی او له هیچا څخه وېره نه لري.

غوسه ناک مه اوسه، ځکه غوسه ناک سړی د هغه اور په څېر دی، چې په ځنګله کې ولګیږي وچ او لامده دواړه یو ځای وسوزوي.

له زوړ دښمن نه دې نوی دوست مه جوړوه، ځکه زوړ دښمن د تور مار په څېر دی، چې له سل کالونو وروسته هم غچ نه هېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل او په هر ځای کې په الله (ج) باندې توکل کوه او له هغه چا سره دوستي وکړه، چې ډېره ګټه در ورسوي.

د پوهانو حضور ته درنښت ولره، له هغوی څخه پوښتنه وکړه او ځواب یې واوره.

د چا مال مه غلا کوه او له خپل مال سره یې مه ګډوه.

له غلو سره معامله مه کوه او هغوی ونیسه.

له ځواب ورکولو مخکې فکر وکړه.

خپل ځان د چا غلامۍ ته مه سپاره .

له پاچاهانو څخه فرمان مه غواړه.

له دروغجن او خبرې ګرځوونکي څخه خبرې مه اوره.

ناپوه ته راز نه وایه.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یونان امپراطور ستر کورش ته وویل: موږ د عزت له پاره جنګیږو او تاسو د شتمنۍ له پاره . کوروش وویل: هو هر څوک چې څه شی نه لري، نو دهغه د لاس ته راوړلو له پاره جنګیږي.

په نړۍ کې له درې ګړونو ډېر وېرېږم: دبې موره ماشوم له ګړه. له جدایۍ څخه د مین له ګړه. له بېګناهۍ څخه د مجرم له ګړه.

هېڅ لوړه بې ژورې او هېڅ ژوره بې لوړې نه ده .

له پاک نظره، په کار پوه، هوښیار او نېک خویه سړي سره مشوره وکړه.

کینه کښ ته خپل مال او شتمني مه ور ښیه.

د خپل نوم له پاره له کار او کسب څخه ډډه مه کوه.

د خلګو په مجازات کې له کینې څخه کار مه اخله .

په علم سره زړه داسې ژوندی کیږي لکه وچه مځکه چې په باران سره ژوندۍ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځراغ  له رڼا نه ګټه واخلئ، دې ته مه وګورئ چې ځراغ د چا په لاس کې دی.

که د خوشحاله او ډاډه ژوند چل مو زده کړ نو پوه شئ چې ټول هنرونه مو زده کړي دي.

شخصي سرحدونه جوړ کړئ، هیڅکله مه غلي کیږئ، هیڅکله خپل ځان قرباني نه کړئ، دا ومني چې هیڅوک ستاسو ژوند نه شئ تعریفولی، بلکې تاسو خپله خپل ځان تعریف کړئ.

نورو سره مرسته وکړئ په ځان پام وکړئ په ځان پاملرنه هیڅکله د ځان ځانی (خود خواهی) عمل نه دی، بلکې دا یوازې یو ښه مدیریت دي.

د  بریالیتوب لپاره ځان چمتو کړئ، په رښتیني ډول د ځان بسیا کولو لپاره موږ باید په بریالتیوب تمرکز وکړو او زموږ په ژوند کې د ناکامیو او منفي پیښنو په اړه بې ځایه فکر هیر کړو.

په ځان سالمې نیوکې وکړئ ، هدف دا دی چې خپلو عیبونو او نیمګړتیاوو ته متوجه اوسئ، ځکه که چیرته بدګړې حل نه کړئ نو نور خلک ورته متوجه کیدای شي.

تاسې هره ورځ هغو کارونو لپاره حل لارو په لټه کې یاست چې ځوروي مو. ځکه داسې مه وایئ چې تاسې په عذاب یاست نړئ به نه وي، بلکې هر انسان همداسې ستونزې او نارامۍ لري، خو مبارزه ورسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپل ځان سره تاييدي مل کړئ، ځکه تاييدول په خپل ځان د باور لرلر او زياتولو يوه غوره او ګټوره وسيله ده.

ځرنګه يې چې غواړئ له خپل ځان سره مو هماغسې تصور وکړئ، ځکه څه مو چې په فکر کې راتلل يا تصور کول، داڼه اوسئ ترلاسه کولي يې هم شئ.

هغه علم بې ګټئ دی چې عمل پرې ونه شي او هغه مال بې ارزښته دی چې پر ښو چارو ونه لګول شي.

هر کار چې کوئ او له بندګانو هېڅ ډار مه احساسوئ

په کومه خبره چې نه پوهېږئ مه يې کوئ او په کومه چې پوهېږئ د داسې سړی په مخ کې يې له ويلو دريغ مه کوئ چې په ارزښت يې پوهېږي.

خپل ځان سم کړئ چې خلګ درسره ښه درسره وکړي.

هر ښه کار په پيل کې ناشونی وي.

د انسان ستر دښمن دهغه ګناه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا علم چې له ما څخه کم وي زړه مې پرې درد کوي او چې د ډېر علم خاوند وي کینه مې ورته په زړه کې نه راځي.

د نیک کار پیل ستاسو کار دی او پای یې الله پاک ته پرېږدئ.

د خپل ځان د درناوی یو ډول دادي، چې له هغه اشخاصو جلا شئ چې ستا قدر او اهمیت نه پیژني.

قناعت هغه عینکې دی چې په سترګو دی وي، نو ژوند درته ښکلی ښکاري،خو که د سترګو دی لرې کړې نو بیا دی سترګې په هیڅ شی نه مړېږي.

یواځې خوښ ښه یې لدینه چې تر ځنګ دی زر منافقین وي.

اړتیا کله سپین ږیری هم توپ وهنی ته اړ کوي.

یواځې دا پوره نه ده چې ښه او پیاوړی عقل ولری، بلکې مهمه او لازمه دا ده چې ته یې ښه او پر ځای استعمال کړئ.

تل پاک نفسه او خیرخوا اوسه، د نورو لپاره هغه څه خوښ کړه چې د ځان لپاره یې خوښوی.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې انسانانو د زړونو لیدل ممکن وی، نو د هر زړه دردونکی کیسې ته مو لوستی وي.

مرغان مېږیان خوری خو چې کله مرغان مړه شي، بیا یې مېږیان په خوراک پیل کوي.

که نن ځواکمن یې نو په یاد ولره چې زمانه له تا ډیره ځواکمنه ده.

غړ لوړول سړیتوب ندې که چیري غړ لوړول سړیتوب وي، نو سپی به په سړیتوب کې د ټولو سردار وای.

چا چې دنیا کې په لږه قناعت وکړه، ټولې ستونزې به ورته اسانه شي.

یو سپین ږیری راته وویل : شبګرد : یو وخت زه او صحت دواړه د مال په لټه کې وو، خو نن زه او مال دواړه د صحت په لټه کې یو!

وچ لرګي دومره ژر نه سوځي لکه چې څومره چې غیبت د انسان عملونه سوځوي.

رښتیني پوهه هغه ده چې انسان د خپلې ناپوهی په درجه وپوهیږی.

حرص د سړی او حقیقت ترمنځ توره وریځ جوړوي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

منفي انسان هغه څوک دی، چې د یو شي په قیمت پوهیږی ، خو په ارزښت يې نه پوهیږی.

اصلی رڼا هغه ده چې زړه روښانه کړي دا روڼا یواځي په قران کریم کی شته.

هر مشکل د انسان د همت امتحان اخلي.

ماشومان د روښانه سپوږمۍ په څېر دي.

کور زیوارت ماشومان دي.

ځينې وختونه تر ټولو ښه نڅاګر هم په ستيج لويږي.

هوښتيارتيا نا پایه پای ته رسیدونکي شتمني ده.

د سختو ستونزو حل یوازې هوښیاران راباسي.

غمونه هم ارزښتناکه شتمني ده، یوازې په هغه چا کې موندل کیږي چې تاسو ورسره مینه لرئ.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډېره غوره ده چې ونې ته پورته شئ او لاندې ترې راوغورځئ او ملا مو ماته شئ له دې نه چې د یو چا په مینه کې غرق شئ خو هغه دې زړه مات کړي.

هره ورځ لږ باران کولای شي چې سیندونه تل جاري وساتي.

د جاهلانو دوست جاهل وي او د هوښیارانو دوست هوښیار وي.

هغه څوک چې هره ورځ د یو څه لپاره حرکت کوي له هغه چا غوره دی چې بخت او طالعو ته انتظار کوي.

زه همیشه دخوښۍ احساس کوم. تاسو پوهیږئ چې ولې؟ ځکه چې زه هیڅ څه تمه د چا څخه نه لرم.

ژوند ډېر لنډ دی له ژوند سره مینه ولره، خوشحاله اوسه او مسکا کوه.

له خبرو کولو وړاندې غوږ ونیسه، د یو څه د لیکلو وړاندې فکر وکړه، د یو څه د لګښت کولو وړاندې عاید لاسته راوړه.

د دعا کولو وړاندې نورو ته ببښنه کوه.

چاته د درد رسولو وړاندې احساس وکړه.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نفرت کولو وړاندې خلکو سره مینه ولره.

د پریښودلو وړاندې یو ځل بیا هم هڅه وکړه او له مرګ وړاندې ژوند وکړه.

د کوم کار په کولو چې شرمیږي د هغه په ژبه هم نوم مه اخله.

پر انسان ډیر مشکلات د ژبې له ناوړه چلند څخه پیښیږي.

د بدن د ټولو غړوله جملې څخه ژبه ډیره سرکښته ده.

تر څو زړه پاک نه شي، ټول بدن په مصیبت کې اخته وي.

په ژوند کښې لویه فتح او بریځ دادئ چې پر خپل نفس غالب او کامیاب شي.

که څه هم د مرګ له راتګ نه وړاندې څوک نه مرکیږي خو په ژوند کښې پخپل لاس ځان د ښامار په خوله کې مه ورکوئ.

رښتینئ اخلاص دادئ چې د خپلو د عملونو بدله او عوض ونه غواړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیني کسان له خپل ژوند څخه لاس په سر او پښېمانه دي خو مرګ ته هم تیار نه دي دا هغه کسان دي چې بې هدفه ژوند تیروي.

د ژوند ټول توان او طاقت دومره دئ، لکه د ډبرې په سر د شبنم د څاڅکي.

که حقیقي ژوند غواړې له طمعې کولو څخه ځان وژغورئ.

ژوند د وخت نوم دئ که ته هغه ضایع کړې یقینا خپل لاس برباد او تباه کړې.

د مصیبت او مشکل له امله همت نه بایلل نیمه کامیابی ده.

د بې همته خلګو له سیوري څخه ځان هم وژغورئ .

همت د ژوند تاداودئ او بې همتي د مرګ تاداوئ.

له خپل توان څخه زیات کارمه کوئ مګر دومره هم مه یې همته کیږئ چې خپله سستي مو بل چاته اړ او محتاج کړي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کبر او غرورپېښي د اسمان لورته مه پورته کوه بلکه دا خلاص سر پر ځمکه کښېږده.

د کور اخیستلو ځخه مخکې د ګاونډیانو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

د سترګو ساتنه وکړئ، ځکه داده زړونو ور دی او ټول افتونه له همدې لارې زړه ته ننوزي.

له غلا او خیانت څخه ډډه وکړئ، ځکه دا عملونه لوږه او فقر را منځ ته کوي.

څوک چې الله (ج) په لاره کې مشغول وي، الله (ج) به د هغه کارونه سرته رسوي.

حقیقت دادی چې انسان یو ډېر ضعیف او ناتوانه مخلوق دی، د حیرانتیا خبره داده چې څنګه له ډېر قوي او زورور خدای (ج) څخه نافرماني کوي.

د چاچې ژړا په وس کې نه وي پوره، هغه به په ژړیدونکو څه مهرباني وکړي.

ښه سړی هغه ده چه په ښو خلکو ګران او د بدو خلکو زښت وی.

څوک چه دینی علم ددی په خاطر زده کوی چه د خلکو پام ځان ته راوړی ځای به یې دوزخ وی.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر سړی څلور صفتونه لري کمینی، ادب، مهرباني، او عدالت.

کله چې يو سړی بل ته پور ورکړي نو د پور وړې سوغات دی نه قبلوي.

د ملګری په نیمګړتیاو پسی مه ګرځه او کنه بې ملګری به پاته شی.

ډیری خبری د پوهی دلیل نه ده.

خپل ځان عقل مند مه ګڼې د الله نه وډار شي او له بدو نه لاس واخلئ.

د میلمه په ویاړ ډیر لګښت په اسراف کې نه راځې .

لږ خواړه د رنځونو دوا او په ډکه ګیډه خواړه د ناروغیو مور دی.

د ژبې ساتنه ثواب دی.

ستاسو لپاره د خیر خبره همغه ده چې له شره ځان وساتی.

له بدکارو نه هیڅ وخت و نیکی او ځوانی طمعه مه کوه.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نورو باندی مه په غوصه کیږه او ورسره په نرمۍ خبری کوه.

په هغه څه چې نورو ته يې نصحت کوي خپله پرې زر عمل کوه .

خپل فکر په هیله ډک کړه او د الله په امر د بریالیتوب هیله ولره، او تل د خوشحالی زیرې په خپل فکر او حس مسلط ساته.

ځینی خلک هغه کتاب نه لولي چې مفت يې پیداکړي وي.

د ښایستې نجلۍ شپېلکی د پرانګ تر غړومبهاري لا د لیری څخه اوریدل کېدلای سی.

پر هر کونج باندی ورو ګرځه ښايې هلته به یوه نوې لاره یا یوه پټه دروازه تاته منتظره وي.

زخمي سوی دوست سخت دښمن دی.

مینه هوښیاران او بې عقلان یو شان ړندوي.

که وخاندې نړۍ به در سره وخاندي، که وژاړې یواځی به پاته سې

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه دوست ستا یو بل ځان دی..

ژوند د امیدونو لاره ده، راځئ چې ولاړ سو پر هره خوا چې مو بیایی.

د خپلو ملګرو صفت کوه، د دښمنانو په باب چپ اوسه.

هغه دوست ته متوجه اوسه چې تا زورولي وي.

کله چې پیسې خبرې کوي حقیقت خاموش وي.

خپل ځان د اوسپني په دېوال مه ساته بلکي د ملګرو په ټولۍ یې وساته.

هغه اوښکې چې له هرې ماتې وروسته یې تویوو، په حقیقت کې هغه خولې دي، چې د بریا له پاره مو نه دي تویې کړي.

له هیټلر څخه پښتنه وشوه: تر ټولو ټیټ انسانان څوک دي ویل : تر ټولو ټیټ او بد انسانان هغه کسان دي، چې د خپل هېواد په اشغال کې یې، چې زه یوازې وم ،له ماسره مرسته وکړه، دا چې وطن د مور حیثیت لري، او هغوی د دې زمینه برابره کړه ترڅو یې په مور باندی مسلط شم.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه ځای کې چې زمرى نه وي، لېوه حکومت کوي، ترڅو چې زمریان وي، نو لېوان حکومت کول هېروي.

ځواک په دفاع کولو کې نه ، بلکې په برید کولو کې دي.

که چېرې ملت اراده ولري، نو په هر کار کې بریالی دی.

کله چې ګټونکی شې، تشریح ته اړتیا نه لرې، کله چې بایلونکی شې، نو د تشریح له پاره څه نه لرې.

ځان له نورو سره مه پرتله کوئ، په دې کار سره د ځان سپکاوی کوئ،

د نورو په خوښه واده کول په دوزخ کې ټاکنه ده.

څو چه له آزادو ښځو نوی نسل منځته رانشي هېڅکله به لوی او درانه خلګ ونه وینو...

که آلوتی نشې ، منډه وکړه که منډه نشې وهلی په سینه وخوځیږه او ولاړ شه هر کار چې کوې ترسره یې کړه هڅه وکړه او حرکت ته د ادامه ورکړه ....

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د یو څه پوهیدلو لپاره هېڅکله هم هڅه ونه کړئ: نو هېڅکله به په څه پوه نشئ.

د ژوند تر ټولو سخت امتحان د ښه د وخت د راتلو ته انتظار او صبر کول دي.

له حده ډېر په چا باور مه کوه، له حده ډېر د چاسره مینه مه کوه، له حده ډېرې هیلې مه لره، ځکه دا د حده ډېر ډېر به تاسو تر ټولو ډېر وردروي.

که یو ځل مو د لرې ځای څخه اوبه راوړې، تاسو ته به د اوبو د هر څاڅکې ارزښت معلوم شي.

که غواړئ چې قوي واوسئ، نو تاسو باید په یوازیتوب سره جنګیدل زده کړئ.

کله چې تاسو لوړ آلوځئ، خلک درپسې ډبرې ګوزاروي، لاندې مه ګوره نور هم لوړ والوځه تر څو ډبرې درپسې در ونه رسیږي.

د خوشحاله اوسیدلو تر ټولو ساده طریقه دا ده چې هغه شیان ایسته وغورځوه، کوم چې تاسو خواشینی کوي

هیلې او ارمانونه درلودل د کامیابۍ لومړۍ پوړۍ ده خو د هغې لپاره عملي کار کول یې دوهمه پوړۍ ده.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند دوه قوانين لري:   ۱   هېڅکله ستونزو ته مه تسليم کيږئ..  ۲  لومړئ قانون تل په ياد ولرئ.

پيسې په اسانئ سره  له لاسه وځي دا يوې مرغئ مثال لري که پاملرنه ورته ونه کړئ درنه آلوځي.

ځينې وختونه تاسو برياليتوب ترلاسه کوئ، خو ځينې وختونه يواځې يو څه زده کوئ.

وخت يو داسې ډاکټر دئ چې د هر غم او خواشينئ درملنه کوي.

د ژوند راتلونکئ فصل په خپله جوړ کړه.

پوهان خبرې کوي، خو هوښياران ورته غوږنيسي.

هغه کتابونه چې نن لوستلای شئ تر سبا يې مه پريږدئ.

د ټولو بد مرغيو ريښه د پيسو کموالئ دئ.

سجده تل دا رايادوي، چې هيڅکله هم يواځې نه يم.

انسان چې هر څه ته هوډ وکړي، نو وبه رسيږئ، د انسان فکر د هغه ژوند جوړونکي دي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کم ظرفه خلکو په دوره کې غوره ده، چې خپل باور او فکر پټ کړئ.

پام مو وي، چې هسې نه ناپوهان نړۍ ته خپل واک لاندې راولي او پوهه جرم وګڼل شي.

د یهودو د پوهۍ په اړه الله تعالی فرمایي، ژباړه.. د هغو مثال د هغه خره په څیر دی، چې کتابونه پرې بار کړای شوي وي.

کله کله ډېر باور او ډېره مینه چې بې ځایه خلکو ته یې ور کړې ډېره بده پایله لري.

تر سترو ماڼیو او کورونو یو وړوکی کتاب، چې زړونو ته خوښي ببنلای شي غوره دی.

افلاطون وایي... سختي او مصیبتونه چې څومره عش وعشرت کموي، نو هماغسی نفسونه هم اصلاح کوي، همدا راز وایي چې سختیو او مصیبتونو درکړي دوستان راکلک کړئ او قدر یې وکړئ د دې برعکس نعمتونو او سوکالیو درکړي دوستان له یاد وباسئ.

خاتم طایی وایي... د شریف او سخی سړی تیروتنې د هغه د شرافت او سخاوت له امله ببنم او رزیل او سپک سړی له کنځلو نه د خپل شرف او عزت لپاره مخ اړوم.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کمزورۍ ارادې خاوند به ټول عمر لالهانده وي، نه به کاميابي په لاس ورځي او نه ناکامي.

له سلفو نه يوتن وايې.... ای انسانه ! ته درې ورځي لرې يوه دې پرنۍ ورځ، چې هغه خو لاړه تيره شوه، ستا سبانۍ ورځ چې لانه ده راغلي او دريمه دې نننۍ ورځ ده چې په دې کې بايد له الله تعالی څخه و وديرېږي.

شکسپير وايې.... د دښمن لپاره داسې لمبۍ مه بلوه، چې خپله هم پکې وسوزيږي.

لږه فلسفه انسان د الحاد لور ته بيايۍ، دا په داسې حال کې، چې په فلسفه کې ژوره مطالعه بيا انسان دين ته راکاږي.

کله چې د لاسه ورکولو لپاره هيڅ شي هم ونلرې، عزم او اراده به ستا يواځينۍ شتمنی وي.

هټلر وايې.... د عشق او جنګ نه مې جنګ ځکله غوره کړ چې په جنګ کې به مرې او يا به ژغورل کيږي، خو په عشق کې هره ورځ مرې او ژوندی کيږي.

شتمني دا نه ده، چې له تاسره ده، شتمني هغه څه ده چې ته ورسره خوشاله يې.

کوشش بايد له قهرمانانو زده کړو، ځکه دوی تر هغه پورې ماتې خوري، ترڅو قهرمانان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غواړئ د چا شخصت او کریکټر وازمایئ نو صلاحیت ورکړئ.

فرصتونه د وریځو په څیر تیرېږي.

یوه ټولنه هغه وخت نېکمرغه کیږي چې ورځنې چارې یې د کتاب مطالعه وی.

که د انسان ګېډه ډکه شئ فکر یې ویده کیږي.

دا هیڅکله مه هیروئ چې لویه موخه لوی زخمت ته اړتیا لري.

کتاب ډېر مطالعه کړئ، تر څو پوه شئ په هیڅ نه پوهیږئ.

په نړۍ کې داسی خوند نشته چې د مطالعه له خوند سره یې پرتله کړو.

له درد او غم څخه ځینې وخت داسی شیان زده کولی شو چې له خوښي یې هیڅکله نه شو زده کولی،

زما د بریالیتوب سبب له خپلوانو او ملګرو پوښتنه او غوښتنه وه.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماتی او بریالیتوب ترمنځ یو قدم لاره ده، خو خلک له ویری ماته خوری.

که هیله ونه لرئ ، نو په ژوند کې مو بدلون نه راځې.

که تیروتنه ونه کړي ، پرمختګ نشئ کولي.

د نورو له فکره د خپل بریالیتوب لپاره کار واخلی.

ته په یوه شپه کې دغه کتاب مطالعه کوي، خو ما ددغه کتاب په لیکلو کې د خپل سر ویښته سپین کړل.

لوست او مطالعه انسان ډکوي، خبری انسان چمتو کوي او لیکنه انسان دقیق او ځیرک کوي.

که چیری هر شاګرد مو یو قدم د استاد څخه مخکې نه شي، نو ټولنه مو پرمختګ نشئ کولي.

پوهه یا حکمت یو ونه ده، چې ریښې یې په زړه کې مېوه یې په ژبه کې موجود لري.

تر ټولو نږدی مو مرګ، او تر ټولو لری مو هیلې دي.

تر ټولو غوره علم د خدای (ج) پیژندنه ده.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

🌺په چارو کې سستي مقصد ته د نه رسېدو په معنا ده.

🌺له دوه شيانو نه هميشه ډډه کوه : لومړۍ بې حوصله توب او دوهم تنبلي لټې.

🌺ای انسانه ! ټول عمر دی د پيسو په راټولو تير کړ خو نه په کفن کې جيب شته او نه په قبر کې الماری.

🌺 له ځان څخه د شمعې پر ځای يتنک جوړ کړئ، چې ستر وياړ مو په برخه شي.

🌺له قهر او غضب پر ځای له مينې او ورور ګلوۍ څخه کار واخلئ.

🌺غوره وينا هغه ده، چې اوريدونکي پرې وپوهيږئ.

🌺کوم کار چې نه شي کولي، نو مسووليت يې هم پر غاړه مه اخلئ.

🌺که پاچا او يا والي ته ورځي نو د ټولو خلکو څخه وروسته ويناوې کوي.

🌺ويناوې په نرمۍ سره کوئ ځکه د الفاظو په نسبت د لهجې اغيز ډېر وي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څوک چې له علم سره مينه ونه لري هغه هېڅ ښه والي نه لري.**

**ښوونه او زده کړه د انساني فطرت تقاضا او ثابت شوي حق دي.**

**ښوونه او زده کړه د انساني شرافت او کرامت ساتندوي او ضامن دي.**

**جاهل د مال طالب وي او عالم د کمال .**

**غصه، انسانيت د شمعي په څېر ويلې کوي.**

**کتاب د انسان تر ټولو وفادار دوست دی، ځکه نه دروغ وايي او نه منافقت کوي.**

**که دې کړه، نو نورو ته په يې هم ور زده کړي.**

**ماشومان په خاپوړو سره ودريدل زده کوي.**

**په ځمکه باندې کامل جنت نشته، ليکن يوه ټوټه يې شته.**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ناکامۍ چې له تاسو څخه عاجز او خاکساره شخص جوړوي، له هغه کامیابۍ غوره ده چې له تاسو څخه مغرور او متکبر شخص جوړوي.

ایا تاسو پوهیږئ چې د انسانانو د ګوتو ترمنځ خالي ګاوې الله پاک ولې پیدا کړي؟ هو، ددې لپاره چې تاسو ته هغه څوک چې ډېر ګران وي راشي او ستا لاسونه د تل لپاره ونیسي.

هیڅکله دې سر د دښمن په وړاندې مه ټیټوه، حتا که ووژل شې، پرېږده کله چې سر دې له تنه جلا کوي، سترګې دې د آسمان په لور وي، نه د ځمکې په لور، د عزت ژوند وکړه، په زړورتیا وجنګېږه او سر لوړی ومره.

یهودان د نورو هېوادونو د هنر او ادبیاتو بنسټ کمزوری کوي، د خلګو احساسات دوکه کوي، ټول سم او پیاوړي افکار له منځه وړي او خلک له سمې لارې بې لارې کوي.

څوک چې خپله ژبه په کابو کې نه سي، ساتلاې هغه به ضرور له پښېمانۍ سره مخ کیږي.

تجربه د نړۍ تر ټولو بې رحمه استاذ دی، ځکه اول امتحان در څخه اخلي بیا درس درکوي.

څوک چې په قناعت سره ژوند غوره کړي، هغه د رښتیني آزادۍ خاوند دي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې پر ځای چې څو کتابونه ولولئ، ښه دا ده چې یو ښه کتاب څو ځلې ولولئ.

داسې یو څه ولیکئ، چې خلک یې ولولئ؛ یا داسې څه وکړئ چې خلک پرې لیکنه وکړي.

قلم باید د کمزورو خلکو په خدمت کې وي، زورور نورې وسلې لري.

تر ټولو بد کار د کتاب نه لوستل او د هغه پر ارزښت نه پوهېدل دي.

کتاب د انسان تر ټولو وفادار دوست دی، ځکه نه دروغ وایی او نه منافقت کوي.

ربښتینولی په لاس کې د اوبو نیولو په شان ده، ډېره آسانه ده، چې تویې یې کړې خو ډېره سخته ده چې ویې ساتې.

زړور هغه نه دې، چې په یو جرم اعتراف وکړې، بلکې زړور هغه دی، چې تکرار یې نه کړي.

له ظالم نه هم ظالم هغه څوک دی، چې د ظالم سره مرسته کوي.

د پوهانو خبري د ورکو مرغلرو امېل دی، چې د پوهنې هر تږي باید ځان په خړوب کړي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یواځې د خلکو په ښنو عادتونو پسې ګرځم، ځکه پوهیږم چې بې عیبه نه یم، نو د چا په عیبونو کې کار نلرم.

که په جګړو کې د شتمنو زامن ومري جنګ ته نور ونه وینو.

کامیابی هغه څه لاس ته راوړي کوم چې، ته غواړئ او خوشحالي هغه څه غواړئ کوم چې ته لاس ته راوړې.

چې له خپلواکۍ خوند واخلو باید خپل ځانونه په واک کې وساتو.

منفي انسان هغه څوک دی، چې د یو شي په قیمت پوهیږي، خو په ارزښت یې نه پوهیږي.

اصلی رڼا هغه ده چې، زړه روښانه کړي دا رڼا یواځې په قران کریم کې شته.

که یو څوک وو، چې ستا سره د اړیکو ساتلو لپاره له ډیرو سختو شرایطو سره مقابله کوله، نو مینه یې هیڅکله مه هېروه.

په حقیقت کې له هغو سړیو چې په جنګ کې وژل شوي، هغه میرمینې ډیرې دي، چې په غم اندوه او جدایی کې مړې شوي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه چې یې هماغسې واوسه که د چا نه خوښیدې، هیڅ پروا نلري ځکه دلته د مجسمې جوړولو فابریکه نه ده.

لیوه ژړل : کله یی، چې ولیدل، چې سپی د یو هډوکي لپاره د شپون لخوا په لغتو وهل کیږي.

هغه وخت به ډیر وردریږې، چې پوه شې د تیر شوي عمر په اندازه دې ژوند نه دی کړي.

په هغه چا پسې ځان سیند ته واچوه، چې د سفر ملګری یې پکار وی؛ نه کیښتی.

دا نړۍ هیڅ ارزښت نلري او هغه څوک چې په دې خبرې پوه شو، نو حقیقي آزادي یې ترلاسه کړه.

کله کله د ځینو شیانو د ساتلو څخه د هغوی خوشې کول ډیره ګټه لري، موږ باید هغه شیان پریږدو، چې زیان راته رسوي، له هدف او مقصد مو لرې پاتې کوي.

بغیر له فکر کتاب لوستل، بې ګټې دي؛ خو بغیر له کتاب لوستل فکر کول خطرناک دي.

وخت په سیند کې د اوبو په څیر دی، هیڅوک نشي کولای هغه اوبه بیا لمس کړي، چې څو شیبې مخکې یې لمس وې، نو ژوند وکړه، او د ژوند له هرې شیبې خوند واخله.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو کسانو ډير خيال ساتلو پکار دي، چې ډير مينه درسره لري، ځکه دوي در سره د همدمره نفرت پوتانشيل هم لري.

که چا درته په تنده لهجه نصيحت کاوه، مه يې رټه، ځکه ددې تيز والي تر شاه ډيره مينه پرته ده، هيڅکله د زنګ ساعت په دې جرم مه ماتوه، چې ته يې له خوبه پاڅولې!

هغه کسان، چې په هيڅ کار کې بريالي شوي نه دي، نورو ته د برياليتوب لارې ښيي.

مورې تل هڅه کوو، چې په ژوند کې نوي څه لاسته راوړو؛ خو تل مو پخواني شيان بايللي.

دا خلک ټول عمر غوليدلي، خو د خفګان ځای دادی، چې ځانونه هوښيار بولي.

تر ټولو مهم درس، چې مورې ته تاريخ راکوي، دادي چې هيچا له تاريخ درس نه دی اخيستی.

تر ټولو پست انسان هغه دی، چې د يو ښځې په زړه کې عشق راپاڅوي، خو د مينې او ملګرتيا نيت يې نه وي ورسره.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د ټولو تشویشونو، غمونو او خفګان یواځینی دلیل دادی، چې د ځان په فکر کې نه یو، تل د نورو د راضي کولو او خوشحالولو کوښښ کوو.

انسانان، چې څه ډول دی، باید په هماغه شکل پرېښودل شي، او د بدلولو هڅه یې ونشي، ځکه د لاسوهنې له امله به بدل نشي، بلکې توازن به یې خراب کړو، ځکه انسان ګل دی، له ټوټو نه دی جوړ، چې کومه ټوټه دې پکې خوښه نه وه ایسته یې کړې او د خوښې ټوټه پکې ځای کړې.

لږ وخت له خپلو مشرانو سره هم تیروئ، هرڅه په ګوګل کې نه پیدا کیږي.

سوال دا نه دی، چې پس له مرګ ژوند شته کنه، سوال دادی، چې مخکې له مرګ دې ژوند کړئ؟

کله مو، چې یو څوک له ځان وشاړه او هیر مو کړ، نو اشتباهات او ستونزې یې مه تشریح کوئ، ځکه دا بیا دا مانا لري، چې په ټوله مانا مو نه دی هیر کړئ.

زړه پسې لاړ شئ، خو عقل مو هم مه هیروئ، هیڅکله د سیند ژوتیا په دومره پښو مه معلوموئ.

د هند پخوانی ولسمشر عبدالکلام وایی.. چې کله زه ماشوم وم، یوه شپه مې مور د پلار مخې ته ډوډۍ کېښوده، مور مې له پلار بخښنه وغوښته چې نن ډوډۍ لږه سوزیدلې ده، خو زما به مې د پلار دا خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هيڅکله هيره نه شي چې زما مور ته يې وويل، خوږې زما سوې ډوډۍ ډېره خوښېږي، په سوچ کې شوم چې ايا د پلار مې رښتيا سوې ډوډۍ خوښېږي.؟ کله چې بسترې ته تلم نو پلار مې پوښتنه وکړه چې ستا رښتيا سوې خوښېږي..؟ پلار مې په غېږ کې ونيولم او راته يې وويل زويه نن دې ټوله ورځ مور سخت کار کړي دی او دشپ يې مونږ ته ډوډۍ هم تياره کړه، نو سوې ډوډۍ انسان دومره نه ځوروي لکه ترخه خبره. همدارنګه يې وويل چې انسان هېڅکله هم مکمل نه دی يو د بل تيروتنې بايد ومنو او خوشاله ژوند وکړو. کاپي.**

**سيند د مرغاوۍ لپاره يو تفريح ځای دی، مګر د کب لپاره ژوند دی، څوک، چې مينه درسره لري، ژوند يې واوسه نه تفريح.!**

**د ماشومانو په نړۍ کې رنګ ، ژبه ، نژاد او مذهب مهم نه دی، بلکې دوی ټول په خپله مشترکه ژبه غږېږي.**

**کله چې خفه يې، نړۍ در پورې خاندي کله چې خوشحاله يې، نړۍ درته خاندي کله چې بل څوک خوشحاله کړې، نړۍ دې احترام (تعظيم) کوي.**

**څوک چې خپل فکر نشي بدلولئ، هيڅ نشي بدلولی.**

**کله کله يواځې د يو کس نشتون، ټوله نړۍ خالي ښايي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسانانو تر ټولو لويه اشتباه دادی، چې ددې، پر ځای چې خپل رفتار او کردار ته خيال وساتي، تل د نورو د خويونو او کردار غم ورسره وي.

کله کله بيا ځلې نه وي، صرف همدا اوس وي، يا هيڅکله ! نو د نن کار سبا ته مه پرېږده !

د نړۍ تر ټولو ډېرې وژنې، لوټل، چور او وحشت مذهبي ټيکه دارانو او مذهبي مشرانو کړي، ځکه دوی فکر کوي، چې د الله (ج) له لورې د بشر د اصلاح دنده دوی ته سپارل شوې.

ځينې ناکامۍ له دېوجې وي، چې ستونزې ته د تسليمدو پر وخت په دې نه پوهيږو، چې بريا ته څومره نږدې يو.

ويلی شم، چې انساني احساسات او عشق د جګړې تر تاوده ميدان ډېر خطرناکه دي، ځکه جګړه کې دښمن تاسې له يو ځل زيات نشي وژلی ، خو مينه او عشق مو بار بار وژني..

که مانه وزخ ډالۍ شي، نو هيڅ مين او عاشق به دوزخ کې ونه سوزوم، ځکه دوی په نړۍ کې په زرګونو ځکه سوزيدلي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خلګو تمه او آمید ساتل داسې دی، لکه تروې اوبه چې څکې، څومره يې چې څکې، هومره دې تنده زیاتیږي.

بدبختي دومره عامه شوه، چې که چاته ووایې، چې خوشبخته يي نو نیوکه کوي.

هر څوک خپل ساز غږوي، خو اخیره پریکړه ستاسې ده، چې هر ساز ته ونه ناڅئ.

راتلونکي ته خوشبین اوسه، خو چمتووالی د سختۍ لپاره کوه.

تر اوو کالو پلټنو وروسته په یوې، خبرې باور کوه.

د شپلۍ اواز ځکه اوچت وي، چې مینځ يې خالی دی.

که غواړئ چې نورو ته مینې ورکولو وړ وګرځئ، نو لومړۍ د ځان سره مینه ولرئ.

ونې په خپلو ریښو پیاوړي وي.

تاسو پوهیږئ چې تاسو د چا سره مینه لرئ، خو تاسو هېڅکله هم نه شئ کولای چې پوه شئ چې څوک رسره مینه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشوم خندا د کور رڼا ده.

دا چا ظاهري حالت قضاوت مه کوه، شاید یو شتمن زړه د یوه زاړه کوټ څخه لاندې وي.

د کینې او کرکې له منځه وړلو هیڅ درمل نشته .

پوهه قدرت دي.

کلانو لپاره باید اغزو ته هم اوبه ورکړو.

په ښو خبرو خواږه نه پیدا کیږي.

خندا هغه ژبه ده چې د ټولو ملتونو خلک پرې پوهیږي.

د خوښیو شریکول خوښي دوه چنده کوي، د غمونو شریکول غمونه نیم کموي.

څوک چې سندرو ویلو هیله او امید لري، همیشه ځانله د ویلو لپاره یو څه پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هوښياران خپلې پريکړې په خپله کوي، او جاهلان دا خلکو په خبرو پسې ګرځي.**

**د مينه لرونکي زړه ښتن هميشه ځوان وي.**

**د کتابونو لوستل زړه غمونه کموي.**

**دردونه درنه هوښيار شخص جوړ وي.**

**مخکې  له دې چې تېري شئ، ځان ته ګوهي وکيندئ.**

**تر څو، چې په ژړا زړه سپکولی شې، چاته د زړه راز او درد مه وايه !**

**زمونږ ستونزه دادی، چې له بدو خلکو سره مو ښې خاطرې جوړې کړي.**

**کله چې يوازې يوه لاره لرې، نو د پريکړې کولو جرئت ته اړتيا نشته.**

**ټولنې ته فضيليت او اخلاق تر خوړو هم مهم دی، ځکه که يوه ټولنه له اخلاقي نظره ماته شوه، هيڅ قوت او انرژي يې بېا نشي جوړولي.**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان او حیوان تر منځ ډیر کم توپیر دی، خو ځینې دا کم توپیر هم له منځه وړي.

له ځانه انسانیت په میراث پرېږدئ، نه انسان ځکه د خپل نسل پرېښودل خو حیوان هم زده دي.

تاسې (انسانان) نه په جنت کې راضي وی، نه دلته راضي یې، او هېڅکله به راضي هم نشی.

که مرګ نه وای، ټولو به یې هیله کوله، د نا آمیدی چیغې به تر آسمانه رسیدې، په طبیعت به لعنت ویل کېده او که ژوند نه تیریدی؛ څومره وحشتناکه او ویرونکې به وه.

هر څه د حقیقت په خدمت کې دی، حتا دروغ هیڅ سیوری نشي کولای لمر پټ کړي.

له دې حالت، چې څوک نه غواړې خو در سره وي، دا حالت ډیر ښه دی، چې څوک غواړې خو نه وي.

د ژوند قانون: لومړی هغه کار تر سره کړئ، چې خوښي در ښښي.

آس، آس نړی ته راځي او پیشو، پیشو ! یوازې انسان دی، چې انسان نړی ته نه راځي، انسان تعلیم او روزنې ته اړتیا لري، چې انسان شي.

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

طوفان : د ونې ريښې پياوړې کوي، خو پاڼې يې رژوي. په ژوند کې که له کوم طوفان سره مخ شوې، د پاڼو د تويېدو فکر مکوه، پريږده، چې ريښې دې، پياوړې شي.

هېڅکله مه تسليمېږه ! که په سطرنج کې، پياده عسکر اوبې ته دوام ورکړي، وزير کيږي.

خندا ته دوام ورکړه، يوه ورځ به دې ژوند له ځورولو ستړی شي.

ټول انسانان مري، اما ټولو انسانانو ژوند نه دی کړي.

يو چاته له ځواب ورکولو مخکې، په چوپه خوله فکر وکړه او وروسته ځواب ورکړه، ځکه خلک ستا چوپوالی ياد نه ساتي، بلکې ستا جواب يادوي.

که له نن ورځ دې نه يې خوښ، دا ستا د تيرې ورځې د فکر پايله دی؛ نو نن ورځ ښه فکر وکړه تر څو سبا خوشبخته واوسې.

زموږ لوی مشکل دادی، چې د احمقانو له لورې محاصره شوي يو.

له يوازيتوب مه ويريږئ، يوازيتوب يوازينی لار ده، چې تاسې خلوت او فکر ته بيايی، هغه خلوت چې تاسې د زړه آواز پکې اورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پرون تاريخ دی، سبا يو راز دی، او نن تحفه ده،**

**د حيرانتيا وړ ده، د انسان غوږونه د نصحت پر وخت کاڼه وي، خو د چاپلوسۍ د اوريدو پر وخت اوريدل کوي.**

**په نړۍ څه د حيرانتيا وړ ناروغي خپره ده، څه چې نلرو، هغه غواړو او دا ناروغي به هېڅکله پای ونه مومي.**

**حقيقت دادی، چې بې سوادي له منځه نه دی تللې، صرف بې سوادانو ليکل او لوستل زده کړي.**

Shabgerd

(c) ketabton.com: The Digital Library

Shabgerd

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**